۳ - (طالبانو ربنتیا په افغانستان کې ډیري تاکتیکی بریاوي لرلي دي ، او دا بهیر لا هم روان دی . د طالبانو توانمندي باید ناڅاپی ونه ګڼله شي ، بلکی د افغان حکومت لپاره طالبان جدی ګواښ دی . موږ یې باید د ماتیدلو هڅې وکړو.) جنرال کلولنډ د امریکي ځانګړو عملیاتو قومندان .

٤ - (طالبانو د لښکرګاه په شمول ستراتیژیکو سیمو ته خپل تمرکز زیات کړی دی. امکان لري چې په راتلونکو وختونو کې به جګړه نوره هم سخته شي.) جنرال چارلي کلیفلینډ .

۵ - (موږ افغان ځواکونو ته وایو چې تاسو له مورچو را ووزئ ، یرغلیز حالت خپل کړئ ، خو دوی نشی کولای . او دا حالت اوس

طالبانو خپل کړی .) جنرال کلیفلینډ .

٦ - (وسله والو طالبانو د پخوا په پرتله زیاتې سیمې نیولې او مرکزي حکومت ته یې د کوانښ کړی پراخه کړې ده) د افغانستان لپاره د ملګرملتونو د سیاسي څانګې استاځی

او ډېری نور ... بهرنیان ، هره ورځ هم خپل کوډاکیان جګړې ته هڅوي ، پیسې ورکوي او له بلې خوا یې روحیات ورځپی ترڅو یې د تل لپاره د کوډاکیتوب په روحیه تر خپل پریشر لاندې وساتي. او کله هم د خپلواکۍ سوچ او فکر ورسره پیدا نشي .

خو په مقابل کې یې د افغان عسکرو اعتراض داسې څرګندوي چې پخپله خوله هم په کوډاکیتوب اعتراف کوي او هم په ور اوښتو بې شمیره تلفاتو .

دا ځکه چې د دفاع وزارت ویاند پرون د ناټو ځواکونو د مرستیال ویاند چارلس کلیفلنډ د خبرو په رد کې په اعتراضیه ډول وویل : چې زموږ بهرني دوستان دا باید په پام کې ولري چې موږ (افغان عسکر) د بهرنیو ځواکونو په استاځیتوب د طالبانو په وړاندې جنګیږو ، نو تاسو ته پکار ده چې زموږ د تلفاتو شمیري رسوا نکړئ ، بلکې موږ ته نوره حوصله راکړئ او مرستې راسره وکړئ .

د دې خبرې د لمر غوندې واضح مطلب دا شو چې موږ د خپل هیواد د دفاع عسکر نه ، بلکې د خارجیانو د ناولیو مقاصدو لپاره د پیسو په مقابل کې د کرایې جګړه ماران یو او له خپلو وطنوالو سره جنګیږو ،

د پورتنیو دواړو خبرو په اړه د حنیف اتمر اعتراف :

په امنیتي او دفاعي چارو کې د غني مشر سلاکار، حنیف اتمر د روان ۲۰۱٦ کال په لومړیو کې په چین کې د بهرنیانو د یوې غونډې په ترڅ کې په خپله لیکله شوي وینا کې وویل: هره ورځ په اوسط ډول زمونږ ۲۰ تر ۲۵ سرتیري وژل کیږي، تر ٪۷۰ زیات دولتي منابع او امکانات مو له طالبانو سره د جګړې او مبارزې لپاره ځانګړي کړي دي، دا قرباني مونږ یوازې د افغانستان د دفاع په خاطر نه ورکوو؛ بلکې په دې غونډه کې ستاسو د هر یوه په نمایندګۍ مونږ دا قرباني ورکړې او ورکوو یې.

حنیف اتمر په څرګندو ټکو اعتراف کوي چې موږ د بهرنیانو لپاره جګړه کوو . او په عین حال کې د تلفاتو په اوړیدلو داسې اقرار کوي چې وایی : هره ورځ په اوسط ډول زموږ ۲۰ تر ۲۵ عسکر وژل کیږي . نو ۲۵ سرتیري چې روزانه وژل کیږي او دا ضرب کړي په ۸ میاشتو کې نو ټوټل شمیره یې تر شپږ زره اوړي . نو د دفاع وزارت ویاند ولې د ناټو پر کومندان کلیفلینډ اعتراض کوي چې افغان عسکر په اتو میاشتو کې ۵ زره نه دي وژل شوي ، بلکې د حنیف اتمر په خبره چې د ملي امنیت مشر دی ؛ تر٦ شپږ زره زیات وژل کیږي. او د جنرال نیکولسن په قول تر ۸ اتو زره پورې سرتیري په اتو میاشتو کې وژل شوي .

هو ! د عسکري تلفاتو د پټولو کیله دي پرځای ده چې باید له خارجي بادارانو یې وکړئ ، ځکه چې تاسو د هغوی لپاره په کرایه جنګیږئ او هغوی مو راز پټ نه ساتي ، رسوا کوي مو . دا کیله مو پرځای ده ، که یې چیرې هغوی ومني . اما د عسکرو دومره زیات وژل مو تر لمر روښانه حقیقت دی .

پای .....!

قاري سعيد زرمتی

د تاریخ مظلوم، شهید ملا عبدالله کردیزی

شهید ملا عبدالله چې مغرضو تاریخ لیکونکو په ګوډملا سره سره تشهیر کړی دی دپکتیا ګردیز ختیځ ته د ډاکټر نجیب د پلـرني کـلي مـیلن سره نـږدې د اتماني د کلي اوسیدونکی او په قوم احمـدزی و،مـلا عبدالله په پکتیا کې د اتماني په ملا سره شهرت درلود. چې د انګریز خلاف جهاد کې یې ښه کردار اداء کړی و او تر خوست او پکتیکا پورې یې شهرت درلود

د غبار د تاریخ له مخې کله چې امـان الله خـان لومړنی نظامنامه جوړه کړه بعضي فقرات یې صریحا له شریعت سره ټکر و،مثلا له بلوغ وړاندې نکاح یـې غیرقانوني او مردوده بلله. سنزل نوید په خپـل کتـاب (افغانستان در عهد امانیه) کې لیکي چې د خوست د منګلو قوم یو تن چې یوه نجلۍ یـې پـه ماشـومتوب نامزاده کړې وه کله یې چې غوښتل له بلوغ وروسـته یې ځان ته واده کړي د نجلۍ کـورنۍ پـه دې نکـاح راضي نه وه، خبره حکومت ته لاړه د امیرالدین په نوم حکومتي چارواکي د نظامنامې په اساس فیصله وکړه چې دغه نکاح غیرقانوني شوې او باید فسـخه شي، د نجلۍ کورنۍ پـه دې خـبره راضي شـوه خـو نکـاح کوونکی مدعي ملا عبدالله ته ورغی او فتوی یې تـرې وغوښته ملا عبدالله ورته وویل چې په شریعت کې لـه بلوغ وړاندې نکاح منعقده ده او هیڅـوک یـې نشي فسخ کولی. دې خبرې زور واخیست تردې چې د ملا عبدالله د فتوی په اساس د منګلو قوم د نظامنامې پـه مقابل کې ودرېد. ملا عبدالله ګردیزي او ملګري یې ملا عبدالرشیدسهاک چې د زرملې لـه سـهاکو څخـه و د ۱۳۰۲ لمریز کال په حوت کې حکومت ته عرض وکـړ چې د نظامنامې غیر شرعي مـواد تبـدیل کـړي خـو حکومت په نظامنامه دومره ډیر ټینګار درلـود او پـه داسې جبر یې تطبیقوله چې زما د استاد مولوي اعظم ګل صاحب له قوله د هغه وخت یوه شـاعر موجـوده وضعیت د شعر په ژبه داسې بیان کړی و.

هرکسی نظم نامه آموختند – کتب شرع را همی سوختند

د امان الله خان حکومت د ملا عبدالله غوښتنه رد کړه او همدا و چـې مـلا عبـدالله د پکتیـا، پکتیکـا او خوست په سیمو وګرځید، د تاریخ له روایته پـه یـوه لاس کې به یې قرآن او په بل کې نظامنامه نیـولې وه او خلکو ته به یې ویل چې کوم یـو منـئ، خلکـو بـه طبعا قرانکریم مانه او ده ورته ویل چې اوس قرآن نه بلکې دغه نظامنامه په تاسو حکومـت کـوي. پـه دې ډول پاڅون پیل شو، حکومت لوی پوځ پکتیا ته ولیږه خو شکست یې وخوړ او قریبا تر یو نیم کـال پـورې

سختې جګړې وشوه چې د ملا عبدالله پاڅونیانو دلویې پکتیا او لوګر ډیرې ساحې ونیولې حتی د میدان وردګو تر سیداباد پورې ورسیدل.

پاڅون په پوره بریا روان و او په وړاندې یې ټول حکومتي کوښښونه ناکام شول مګر هغه وخت له زوال او کمزورۍ سره مخ شو کله چې له هند څخه دعبدالکریم په نوم یو غیر افغان خوست ته لاړ او په دې پاڅون کې داخل شو، عبدالکریم له هنده راغلی ، دعوه یې درلوده چې د امیرشیرعلي خان د زوی یعقوب خان د مینځي زوی یم،ده دعوه کوله چې اصلا د افغانستان پاچاهي زموږ یعني د امیرشیرعلي خان د اولادې حق دی، عبدالرحمان خان چې د افضل خان زوی او د امیرشیرعلي وراره و دوی د انګریز په کومک زموږ دپاچاهي حق غصب کړی دی،کله چې دا سړی راغی حکومت او انګریز دواړو یې د تشهیر لپاره ډیر کار وکړ او له موقع په استفاده یې دا خبره مشهوره کړه چې د ملا عبدالله پاڅون د اسلام جنګ نه بلکې د امیر شیرعلي خان اولادې ته د پاچاهي د ستنولو مبارزه ده،داسې هم ویل کیږي چې دغه سړی انګریزانو رالیږلی و تر څو پاڅون بدنام کړي، ددې خبرې له شهرت سره د پاڅون داعیه او شرعي انګیزه کمزورې او ډیر خلک ترې بیل شول، تردې چې په پای کې لږ کسان پاته او هغه دملا عبدالله او ملاعبدالرشیدپه شمول حکومت ونیول او د کابل شاه شهید ته نږدې د سیاه سنګ په سیمه کې یې اعدام کړل.

وایي ملا عبدالله چې له نیول کیدو وروسته امان الله اخان ته وروستل شو هغه ورته وویل چې ما به تاته ښښنه کړې وای مګر دا چې تا عبدالکریم د پاچاهۍ دعوه دار له ځان سره ملګری کړ نو اوس دې نه شم ښښلی.

دغه وخت عبدالکریم د انګریز تر واک لاندې هند ته وتښتېد د امان الله خان حکومت یې له انګریز څخه د نیولې او دوی ته سپارلو غوښتنه وکړه، انګریزانو چې د عجب خان افریدي د ورسپارلو غوښتنه کړې وه مګر دا چې امان الله خان عجب خان افریدی ورونه سپاره. عبدالکریم په هند کې پاته شو چې وروسته برما ته تبعید او هلته یې خودکشي وکړه.

نن سبا د شهید ملا عبدالله په اړه ړانده تاریخ لیکونکي وایي چې نوموړی انګریز راپورته کړی و مګر دا چې ملا عبدالله له انګریز سره تړاو نه درلود په دې اړه ډیر شواهد شته.سنزل نوید په خپل کتاب کې د انګریز او افغان حکومت دپټو مذاکراتو داسې اسناد خپاره کړي چې هغوی په دې لټه کې دي تر څو په ګډه د ملا عبدالله مالي ملاتړ کوونکي پیدا کړي، د هغو اسنادو له مخې دانګریزانو غالب ګومان دا وو چې د روسیې نوي واک ته رسیدلي بلشویکان د ملا عبدالله ملاتړ کوي خو ددې خبرې لپاره هم هیڅ ثبوت نه دی موندل شوی خو په عین حال کې دا اسناد له ملا عبدالله سره دانګریز د ملاتړ احتمال په کلکه ردوي.

بهادر شاه ظفر کاکا خیل د خپل کتاب پښتانه د تاریخ په رڼا کې په ۸۸۹ مخ کې وایي چې د ملا عبدالله د ځپلو لپاره انګریزانو له امان الله خان سره د پنځه زره توپکو مرسته کړې وه، دغه راز ډاکټر حسن کاکړ د بي بي سي لخوا چاپ شوي کتاب ژوندۍ خاطرې په ۳۰ مخ کې ویلي چې د انګریزانو د هغه

وخت ټول جنګي ارشيفونه يي کتلي خو داسې کوم سند يا شواهد يې په کې نه دي موندلي چې د ملا عبدالله په پاڅون کې د انګريز لاس لرل ترې ثابت کړي بلکې انګريز عملا د امان الله خان تر څنګ ولاړ او د پاڅون د سرکوبولو هڅه يي کوله.

د ۱۹۲۵ د می میاشتې په ۲۵ مه ملا عبدالله او ٦۰ تنه ملګري يې چې دده دری زلمي زامن او يو زوم هم په کې و د کابل ختيځ کې سياه سنګ سيمې ته يووړل شول او د خلکو د لوی ټولي تر مخ چارماري او اعدام شول په اعدام شويو کې د ملا عبدالله تر ټولو جذباتي ملګری ملا عبدالرشيد سهاک هم و چې ځان يې بت شکن باله ، ځکه ده د استقلال له منار سره درول شوي د نادر خان مجسمه په پته ماته کړې وه اوپه همدې يي شهرت درلود ملا عبدالرشيد تر اعدام وړاندې د خبرو په مهال ددې په ځای چې ټيټه يې ووايي يو ځل بيا امان الله او دده ملګري کافران وبلل او په وړاندې يي د جهاد غږ پورته کړ. زما د استاد مولوي اعظم ګل صاحب شفاهي روايت دی چې ددغو کسانو د شهادت په ځای تر ډيره وخته د شپې مهال ډيوې او انوار ليدل کيدل، دا خبره دومره مشهوره شوه چې په کابل کې د خلکو تر منځ په يوه لويه هنګامه بدله شوه او خلکو د ملا عبدالله د حقانيت لوی دليل ګانه، تردې چې حکومت ددې خبرې له خپريدو خطر احساس کړ او بيا يي په دې ځمکه څو بازاري سپيان ووژل تر څو هغه اثر ختم شي. والله اعلم

په دې ډول د شهيد ملا عبدالله داستان پای ته ورسيد خو دده مبارزې امان الله خان مجبور کړ چې لويه جرګه راوغواړي او نظامنامه د علماء کرامو نظر ته وړاندې کړي چې په دې ډول ډيری غيرشرعی مواد ترې لرې شول.

د روس ضد جهاد په مهال شهيد مولوي نصرالله منصور يو له هغو کسانو و چې ملا عبدالله يې د يوه ستر غازي او مبارز عالم په حيث معرفي کاوو نوموړي به د جلسو په مهال د شهيد ملا عبدالله نوم د يوه اتل په حيث په غټو تورو خطاطي کاوو تر څو يي نوی نسل له نوم اوکارنامو سره بلد او له مبارزې يې زده کړه وکړي.

په هر حال شهيد ملا عبدالله د افغانستان د استقلال د جګړو غازي او بيا د انګريز په خلاف د افغانانو د جهاد د علياء اهدافو تر ټولو ستر حامي او د اماني سيکولرزم په وړاندې سرسپارلی مجاهد و چې تر ټولو وړاندې يې افغانستان ته د غربي بي دينه افکارو د سرايت په مقابل کې بيرغ پورته او تر وروستی شيبې يې د بي دينۍ په مقابل کې په جګو سترګو مبارزه وکړه.

اوس چې افغانستان يو ځل بيا د سيکولرايزيشن له خطر سره مخ دی د بي دينۍ په وړاندې زموږ ددې مخکښ غازي پيژندل او قدرداني يوه مهمه اړتيا ده چې بايد نوی نسل ترې خبر او له قربانيو څخه يې زده کړه وکړي .

ددولت په ليکو کې د تېښتې

او تسليمي څېړه تونده شوې!!

دعابد لېکنه

له ټول نړيوال ملاتړ سره سره چې امريکا اودناټو غړي هيوادونه يې دکابل له اداړې سره ترسره کوي بيايې هم يوه شپه په کرار نه ده تېره کړې اودحکومتي بې مثله جنجالي تشکيل په ګډون يې له بېلابېلو شخړو اوستونزو سره لاس اوګرېوان وي ، دوسله والو مخالفينو اوطالبانو نظامي تکتيکونه او پرلپسې بريدونه خو هاغه سرخوړی دی چې ددې اداړې وجود نړيوالو له دوی سره ددې سرخوړي په منلو مشروط کړی .

ولې په دې وروستيوکې ددولت په ليکوکې دنظامي افرادو تېښته اوتسليمي هغه ستونزه ده چې څېړه يې ډېره تونده شوې اودولتي کړی يې له يوډول وارخطايۍ سره مخ کړې،دکره معلوماتو له مخې يواځې په روانه اګست مياشت کې ۵۳۵ تنه له دولت څخه طالبانو ته اوښتي اوتسليم شوي دي، په دې اړه دکابل اداره له اعتراف څخه ډډه کوي اوکه څه مني هم په ډېره کمه اندازه يې ښيي، ولې پخپله امريکايانو اودناټو نورو غړو هيوادونو بار بار دا اعلان کړې چې ددولت له ليکو څخه په تېره داردو او پوليسو له منځه ډلې ډلې په تېښته دي، دروان کال دمارچ په مياشت کې د ' سيګار' امريکايي موسسې چې په افغانستان کې دامريکايي مرستو څارنه کوي په خپل راپور کې وويل: « په تېر کال کې داردو له ليکو څخه ۱۵۰۰۰ پوځيان تېښتيدلي دي » .

که څه هم ددې تېښتې دمخنيوي لپاره يې ځينې هڅې هم ترسره کړې، ولې هغه اسباب اوعلتونه چې ددې ستونزې په وجودکې کارنده اومؤثر ثابت دي، داسې څه دي چې له منځه وړل يې دکابل د دوه سرې اداړې په وس کې نه دي، ځکه خويې دوروستۍ چارې په توګه په دې وروستيوکې دطالبانو په زندانونوکې دهغوی په وژنې اوبمبارۍ لاس پورې کړی، داسې راپورونه هم شته هغه عسکر او نظامي افراد چې سيمه يې طالبانوته پرې اينې وي بيا له دوی سره کوم قيمت نه لري او په نظامي تشکيل کې يې نه نيسي او ځينې خو يې په بېلابېلو بهانو زندانونوته هم استوي .

وايي چې په دولتي تشکيلاتوکې ګډوډي، بې نظمي، دلوژستکيک په برخه کې بې کچې اداري فساداو د افرادو دتجهيز کمزورتيا ددې معاضلې علتونه او لاملونه دي، ولې له دې علتونو سره سره ځيني نور عمده لاملونه هم په ګوته کيږي چې دکابل اداره يې له دې سترې ستونزې سره مخ کړې :

لومړی داچې دطالبانو وروستیو بریدونو او سوبو په ډېرو سیمویه تېره په هغو سیمواو ولایتونوکې دمقابل لوري په جنګي قوې اونظامي افرادو ډېر اغېز شیندلي چې هلته طالبانو یولړ سیمې لاندې اوګڼ دولتي مرکزونه یې په خپل تصرف کې راوستلي لکه دبغلان، کندز، هلمند، فاریاب، پکتیا اودلوګر په ولایتونه کې .

دویم ستر اوترټولو کارنده سبب په دې برخه کې دطالبانو د دعوت او ارشاد دکمیسیون وروستۍ اغېزناکې هڅې دي چې ترډېره دملي اردو، ملي پولیسو او حتی اربکیانو په تسلیمي کې کارنده ثابتیږي، ددوی دکارونو اثر دی چې داربکیانو په څېر دطالبانو سرسخته دښمنان هم خپل لوري ته اړوي او په دې ډول یې وکولای شول د طالبانو په وړاندې د دولت وروستۍ کارنده پروژې ته هم لاره پیداکړي، همدا لامل دی چې په سرپل، خوست، کونړ، لغمان، پکتیکا، وردګ، اروزګان، دای کندی ، غور،جوزجان او دکابل په څېر ولایتونو کې هم طالبانوته زیات شمېر اربکیان له خپلو وسلو او عرادو سره اوښتي دي .

شنونکي وایي ددغې لړۍ دوام دکابل کاواکې اداري ته هغه ستر ګواښ دی، چې په ظاهره یې رنګ تت ولې داوږدې مودې اغېز یې ناڅاپي اودانفلاق ترحده دی .

که څه هم کابل په خپلو مخالفینو دبریاتظاهر کوي او هره ورځ دلسګونو طالبانو دمرګ نه تصدیق کېدونکي خبرونه ورکوي او هڅه کوي په دې ډول په هیوادکې دپورته په څېر دشته حقایقو اوډېرو هغو واقعیتونو پرمخ پرده واچوي چې ترډېره ددوی په زوال اوپه اداره کې دبې کچې ګډوډۍ په وجود دلالت کوي.

خو په مقابل کې یې دډېرو سترو ګوزارونو له لېدو سره سره دطالبانو په لیکوکې انسجام اوکلکه همغږي لیدل کیږي، دغه راز خپل هدف ته د رسېدو لپاره له مؤثرو فزیکي حرکتونو سره سره° ډېرو باریکو نقطوته متوجه کېدل یې هغه څه دي چې په هغوی کې دمبارزې لوړه حوصله اوخپل هدف ته ډېره ژمنتیابښیي، ځکه نو په ډېرلوړ مورال مبارزه کوي اوپه هیڅ صورت په شاکېدونکي نه دي ، کنه نو له نظامي بریدونو سره په څنګ کې په دومره لویه پیمانه دجلب اوجذب هڅې هسې تصادفی امر او طفیلی پروسه نه ده چې یواځې زماني ګردش یې تردومره حده ورسوي .

دوروستۍ خبرې په توګه ویلی شوچې په نظام کې دافرادو دتېښتې اوتسلیمۍ دځپې دغه تېزوالی دطالبانو ځواک اودهغوی مادي قوت نه دی، چې دولتي مؤظفین دې دامریکایي ډالرو په څېر ورجذب کړي، بلکې ترډېره دحقایقو درک اوهغه معنوي اودیني امور دي چې دطالبانو تګلاره حقه اود دوه سري نظام بطلان او پردیتوب په ډاګه کوي .

حسن زوی

نوي فتوحات اود امريکا طفلانه حرکات

پر حقايقواعتراف دحق منونکواوحق پالونکوخلکوکاردی اوله حقايقوانکار ښه لوی بد عادت دی ،دا بد عادت افرادو، کورنيو، قبيلو او هېوادونو او نظامونو ته لوئ تاوانونه وراړوي او په حقايقو اعتراف کول خلک د لويو تاوانونو نه ساتي نو ددې لپاره چې له حقايقو مو انکار نه وي کړی مور دا منو او پرې اعتراف کوو چې پدې مادي نړۍ کې بل يو داسی هېواد هم نشته چې په ټولو امورو کې د امريکا سره د برابروالي ادعا وکړی او يا ورنه ځان پورته وکنی.

د امريکا مادي وسايلو ته د هيچ چا مادي وسايل نشي رسېدای ډېر لويه ځمکه يې ډېر ستر او ښه زرعی حاصلات ورکوي ، د نړۍ زيات بدای خلک همدلته دي ، صنعت او تجارت يې له هر چا وړاندې دی، کومې وسلې او جنګي وسايل يې چې په فابريکو کې جوړيږي او د نړۍ په ګڼو هېوادونو پلورل کېږي له دې لارې لاسته راتلونکی پيسې دومره زياتې دي چې شايد د نړۍ دبل يو صادرونکي هېواد د صادراتو پيسې به ورته ونه رسېږي ؛ رښتيا داده چې اقتصاد يې ډېر پپاوړی دی.

شوروي اتحاد ايله ۸ کاله په افغانستان کې جنګ جاري وساتلای شو او ۸ کلونه پس د شوروي اتحاد د اقتصاد هغه حالت و چې نه يواځې دا چې جنګ يې نور روان و نه شو ساتلای بلکې د خپل استعمار لاندې هېوادونه يې هم نور له ځان سره نه شو ساتلای نو هماغه و چې ټوټه ټوټه شو اوټول استعمارشوي هېوادونوترې آرادي واخستله خو امريکا چې دخپل تاريخ تر ټولو اوږد او د لوړو مصارفو جنګ کې د ۱۵ کلونو راهيسې اخته ده داسمه ده چې اقتصاد ته يې ډېر زيان وراوختی دی او د چين په څېرد هېوادونوهم په ملياردونه ډالر پوروړی ده خو د ستراقتصادی بحران سره لا نده مخامخ نوځکه لاهم په ځان کې د جنګ روان ساتلو توان ويني ؛لاهم په نړۍ کې د شيطاني پلانونو او دسيسو په تطبيق په ملياردونه ډالر لګوي او لا يې هم د خپلو غلامو هېوادونو سره د کلنيو مرستو لړۍ روانه ساتلې ده.

مـوږ دا هـم منـو چـې د امریکـا فـوځ یوخونخوار،بی رحمه او جنگ خوښونکی فوځ دی ځکه چې دا داروپانـه دراغلـو هغـه قـاتلینو، قابضـــینو، لوټمارانـــو او غلـــو اولاد دی چـــې دریډاندین په نوم دامریکا خپل اوسـېدونکي یـې وژلي دي اوپدې خـاورې قـابض شـویدي ؛ نوپـه دوئ کې د خپلو پلرونواو نیکونـو نښـې او آثـار شته.

امریکایـان خپـل همـدې سـتر او مـادي او نظامي ځواک سخت مغرور کړیـدي او د غـرور تر څنگ دوئ د مادیـاتو سـخت حریصـان هـم دي.

امریکایانو کې نورې گنې بـد اخلاقـئ هـم شته خو دا دواړه یانې غـرور اود مادیـاتو حـرص دوه داسی اخلاقي کمزوریانې دي چې د امریکـا د ټولو ناسـمو پریکـړو او دناسـمو پرېکـړو پـه تنیجه کې د ټولو ناکامیو د اصل لامل په توگه یې یادولی شو.

د دوهم نړیوال جنگ نه پس چـې امریکـا پر کوریـا ، ویتنـام ، ډومینـکن، لبنـان، گرینـاډا، پانامه، عراق، صومالیه، هیټی، بوسنیا، کوسـوو ، افغانسـتان او بیـا پـه عـراق حملـې کړیـدی ددې ټولویرغلونو هدف یواځې او یـواځې پـر ټـولې نړۍ خپلـه بـاداري قـائمول او دنـړۍ پـر وسـایلو قبضه راوستل و.

د افغان جهاد د کامیابۍ په تنیجه کې د نړۍ د یو قطبي کېدلو نه پـس خـو پـه امریکـا بیخـي سترگې پټې شوې نه ورته په نړۍ کې کوم طاقت د طاقت په نظر ښکارېدو، نه یـې پـه چـا کـې د مقابلې توان لیدلو او نه یې په وهم او خیـال کـې دا راتله چې گینې څوک به یې مقابلی ته د راتلـو جرأت وکړي نوبې له دې چـې د افغانـانو تـاریخ یې رامخې ته کـړی وای، د دوئ د مـزاج نـه یـې ځـان خـبر کـړی اولـږ تـر لـږه د انگریزانـو او روسانو شرمېدلې ماتی یې رامخـی تـه کـړی وای دلتـه د سـوچه اسـلامي او د امـن نـه ډک نظـام درنگولو ؛ دسـیمې د زېرمـو د قبضـې او دسـیمې دهېوادونو د سرکوبولو لپاره یـې پـه ۲۰۰۱م کـال کې پر افغانستان یرغل وکړ.

امریکا د یادو شومو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره د دائمې قبضې پـه موخـه زمـونږ پـر گـران هېواد یرغل کړی و نو ځکه یې هیڅ قسمه مهـال ویش نه و وړاندې کړی اونه یې داویل چـې کلـه به له دې هېواد نه ببرته خپل فوځونه وباسي.

خو کله چې طالبان د دوئ پر ضد د جنـگ ډکر ته راووتل ؛جنگ ورو ورو په مـنظم کېـدو او د امریکایانو تلفات مخ په زیاتېدو شول او پـه افغانسـتان کـې شـتو امریکـایې او نـورو بهرنـو ځواکونو ته یې مقابلـه ناشـونې شـوه نـو جـارج ډبلیـوبش پـه ۲۰۰۶م کـې افغانسـتان تـه اضـافي

فوځونـه راواسـتول ، هغـه مهـال بـارک اوبامـا سناتورو او د امریکا د دولـت نـه یـې پـه شـدت غوښتنه کوله چې د عراق نه دې خپله ټوله توجو د افغانستان جګړې ته راواړوي.

هماغه و چې د ۲۰۰۸م کال په ولسمشر-یزو انتخابـاتو کـې د بریـالیتوب سره سـم اوبامـا پـه افغانستان کې د خپلـو سرتېـرو د زیـاتولو اعـلان وکړ خو چې دې اعلان د طالبانو په روحي هـیڅ منفي اثر ونکړ او د عسکرو زیـاتوالي د جګـړې شدت راکم او نه هم د امریکایانو او نورو بهرنو ځواکونو پـه تلفـاتو کـې کمـوالی راغلـو بلکـې جګړه لاپسې توده او تلفات لاپسـې زیـات شـول چې ورسره د امریکایانو له لورې د افغانستان تـه د امریکایې فوځونو د راوستلو غوښـتنې رامخـې ته شوې نو د ډېرې سـترې نـاهیلۍ پـه عـالم کـې اوباما اعلان وکړ چې له ۲۰۱۱م کال وروسته بـه یې د فوځیانو د راویستلو پروګرام پیل شي.

پـه ۲۰۱۴ م کـې د اشرف غنـي او عبـدالله د ګـوډاکۍ اداړې رامنځتـه کېـدو سره سـم چـې د امریکا او ناټو سره د امنیتـي تړونونـو پـه نـوم د هېواد پلورنې سندونه لاسلیک شـول نـو امریکـا بیا خپل پروګرام بدل کړ او اعلان یې وکړ چې د ۲۰۱۴م نه پس هم د امریکا ۹۸۰۰ او د نـاټو ۲۰۰۰ عسکر په افغانستان کې پاتې کېږی چـې ۲۰۱۶ م کې به دا شمېر نیمایې ته راکوز شي.

د طالبانو په لاس د کنـدز ښـار د فتحـې نـه پس بیا امریکاخپله وړاندینۍ تګـلاره بدلـه کـړه او ویې ویل چې د ۲۰۱۶م تر پایـه بـه افغانسـتان کـې ۹۸۰۰ سرتېـرې سـاتی او د ۲۰۱۷ م کـال پـه لومړۍ میاشت کې بـه بیـا دغـه شـمېره ۵۵۰۰ تـه راښکته کوي.

اوس یې بیا اعلان وکړ چې د ۲۰۱۶ م کـال تر پایه به په افغانستان کې ۹۸۰۰ نه بلکـې ۸۴۰۰ عسکر وسـاتي ، تـر څنـګ یـې د ۸۰۰ تـازه دمـو عسکرو د راوستولو اعلان هم کړیدی او هلمنـد کې د طالبانو د نویو سترو فتوحاتو د مخنیـوي او خپلو ګوډاګیانو ته د نوې روحـې ورکولـو لپـاره یې هلمند ته د دوئ په وینا۱۰۰ امریکایې عسکر رالېږلي هم دي .

هغه امریکا چې دهمېشنۍ قبضې په موخـه یـې پرافغانسـتان یرغـل وکـړ اوس چـې دخپلـو فوځونو دویستلو اعلانونه کوي ؛ کلـه ېبرتـه لـه خپلـې ژمنـې پشـا کېـږي او دخپلـو فوځونـو دایسـارولو خـبره کـوي ؛ کلـه خپـل فوځونـه راکموي؛ کله ېبرته له خپلې خبرې اوړي او وایې چې دفوځیانو دراکمولوپرېکړه یې بدله کړیـده ؛ کله وایې دفوځیانوجګړه یزماموریت یې پای تـه رسـېدلی دی ؛ کلـه ېبرتـه دجګـړې ډګرتـه راستنېږي؛ دامریکا داغیرثابت حالت ددې خبرې ډېرلوی دلیل دی چې دافغانستان په اړه دامریکـا تګلاره ډېره متذبذبه ده.

ډېرخلـک لاهـم گومـان کـوي چـې دافغانسـتان پـه اړه دامریکـا تگـلاره پـه کلکـو بنسټونو ولاړه اوباثباته ده خوحقیقـت دادی چـې دطالب قوي اوستروگوزارونودامریکا ټـول نظـم دړی وړی کړیدی؛ کله چې لږه دارام ساه واخـلي وایې چې موږکال نورهم پـاتې کېـږو، خـو چـې څومضـبوط گوزارونـه وخـوري اودطالبـانو فتوحات مخ په زیاتېدوشي نوبیا دوتلوخبرې پیـل کړي.

دایـواځې پـه افغانسـتان کـې نـده بلکـې دامریکاټول تاریخ دهمدې خبرې گـواه دی ؛ پـه هرچایې چې یرغل کړیـدی نوپـه پیـل کـې ډېـر منظم ښکاري خوچې بیا یې دکمزوروخلکـو لـه لاسه گوزارونه خوړلي نوټول نظم یې تباه اوډېـر زر دبـې نظمـۍ اوخنـدا وړحالـت سره یوځـای تښتېدلي دي.

پدې تازه ورځوکې چې دهېواد پـه ختـیځ ، شمال او جنوب کې طالبانوگڼ فـوځي مرکزونـه فتح اوفراخې سیمې اوغونـډې غونـډې ولسـوالۍ ونیولې نوامریکا یوځل بیا سخته ورخطا شـویده اوتگلاره یې دسخت تذبذب ښکارده او دهمـدې تذبذب او ورخطایۍ په حالـت کـې یـې سـخت طفلانه اودخندا وړ حرکات او اقدامات کړیدي.

هغـه هلمنـد چـې پکـې زرونـه بهـرني امریکایې اوبرتانوي اشغالگر دطالبـانو دمقـابلې نـه عـاجز اوپـه تېښـته تـرې وتښـتېدل اوس بـه یواځې ۱۰۰ امریکایې فوځیان څرنگه دطالبـانو مقابلـه وکـړای شي؟ څـه بـه لـه طالبـانو هلمنـد وساتي اوڅه به خپلوگوډاگیـانو تـه نـوې روحیـه ورکړي؟

موږ پدې پوهېږو چې امریکا لاهم دخپلـې گوډاگۍ ادارې دبقا اودخپل دائمي اشغال خوبونه وینـي او ددې لپـاره لگیـاده ناکـامې هڅـې کـوي اوغـواړي چـې دسـیمې دټولوهېوادونـو لپـاره دیودائمي گواښ په توگه پـاتې شي خوداهیلـه یـې هیڅکله هـم پـوره کېـدونکی نـده ؛ مـوږ خپلـو گرانو هېوادوالـو، ټـول مسـلمان ملـت اودسـیمې هېوادونو ته زېری ورکـووچې نـور پـه امریکـا کې دلته دپاتې کېدلواوجنگ ته دطـول ورکولـو همت اوحوصله نده پـاتې ؛ طفلانـه اودخنـدا وړ حرکات یې هیڅ گټه نـه ور رسـوي اوډېـر ژر ده چې دشرمېدلې ماتې سره به موله هېـواده وتښـتي اوټوله سیمه به یې له شرنه په امن کې شي .

ان شاءالله تعالی

گذر کوتاهی برابعاد عملیات جهادی عمری!

سعید بدخشانی

از بدو عملیات فولادین وپیام آورآزادی (عمری) که با نعره های ملکوتی الله اکبر در تمام کشور برمراکز قوای آمریکایي،قرارگاه ها وپایگاه های نظامی رژیم مزدورآغاز گردید،بلا درنگ سلسله فتوحات وتسخیرپوسته های دفاعی،کندک های مهم و واحدهای اداری اداره غربی در گوشه وکنار کشور از سوی مجاهدین امارت اسلامی نیز شروع وبسیار به موفقیت تام بصورت رعد آسا ادامه دارد.

درجریان غلیان وجوش عملیات مبارک عمری پایگاه های بسا مصؤن ومهمی مانند(هوتل نارت گیت،بگرام و...)،همینگونه قطار های زرهی امریکایها ودیگر اشغالگران کفری هدف حملات مرکبار ستاره های کهکشان مجاهدین فدای قرار گرفته،وبرعلاوه خسارات هنگفت مالی ده ها جنرال بلند پایه، مشاورین، دیپلومات ها وعساکر وحشی شان رهسپارجهنم ویا هم معیوب شدند.

با این وضعیت اشغالگران امریکای بیش از پیش بشکست فاحش ورسوای مطلق مواجه گردیده وهمه دبدبه وغرور شان بخاک یکسان شد وهمین گونه به رکود اقتصادی وتوان جبران ناپذیر روبرو شدند.

بنظرکارشناسان سیاسی ونظامی، باد های طوفانی وتند عملیات کوبنده عمری قصرهای اقتدار نظام پوشالی را تکان داده وتمامی دسایس وعزایم نافرجام صلیبی های اشغالگر را خنثی ساخته است،واز جانب دیگر به تبلیغات وشایعات آن عده رسانها ومدیاهای اجرتی غرب که به نقل از بادارانشان میگفتند:که تحرکات نظامی طالبان کاهش یافته است)نیز جواب دندان شکن داد.حالا آشکار گردید که مجاهدین امارت اسلامی تنها در چند منطقه ویا ولایت محدود نه بلکه در تمام نقاط کشور عملیات های بسا مهم، منظم،هدفمند وکفر شکن را تنظیم کرده میتوانند.

آری! سرعت عملیات آهنین عمری نشان داد که مجاهدین سلحشور امارت اسلامی نسبت به سابق به تجربه های جنگی،مهارت های عصری وتاکتیک های محاربوی جدید دست یافته اند،وبا استفاده از آن دایره زندگی دشمن را چنان ضیق نموده اند که قوماندانان وجنرالان بزدل دشمن مورال خود را ازدست داده اندو از صحنه های نبرد فرار میکنند،ودر مقابل مجاهدین با بسیار روحیه عالی قدم بقدم به فتوحات ودست آورد های عظیمی نائل می آیند وجهت استقلال کشور با گام های استوار به پیش میروند.

به باور ناظرین امور جهادی در کشور، عملیات عمری به مقایسه سالیان گذشته نهایت مؤثر وهدفمند میباشد،که در گوشه وکنار کشور پهناور گردیده

وموفقانـه بـه پـیش درحرکـت اسـت،بنظر آنهـا:اگر مجاهدین سلسله عملیات را همچنان کوبنده وجاری نگهدارند،بدون شک اکثر ولایات کشور از وجود اشغالگران ورژیم منحوس پاک وتحت سلطه امارت اسلامی می درآید،که نمونه بارز آن فتح آکثر اراضی هلمند،قندوزوتسخیر واحدهای اداری بی شمار ومناطق استراتیژیکی ولایات دیگر کشور میباشد.

شایان ذکراست که درکتمرویا بیشتر از یک ماه گذشته ولسوالی های مهم واستراتیژیکی مانند دهنه غوری بغلان،حصارک ننگرهار،قلعه زال وخان آباد قندوز،خواجه غار تخار،جانی خیل پکتیا ودیگر ساحات وسیعی در سرپل،جوزجان، غور،فراه، هرات، روزگان،کندهار،زابل، لغمان،لوگر،بدخشان و..... فتح وبه دشمن تلفات سنگینی جانی وخسارات فراوان مالی وارد گرید.

فشهد شاهد من اهلها:

جنرال چارلز کلیولند سخنگوی ناتو در افغانستان می گوید: که در درگیرهای هشت ماه گذشته بیش از پنج هزار نظامی افغان جان باخته اند.همچنان نزدیک به پانزده هزار نظامی شامل پولیس وارتش افغانستان زخمی شده اند.

نظامیان اداره کابل پس ازشکست جبران ناپذیر در میدان جنگ با نیروهای جان نثار طالبان،از باداران خود خواستند که بیش از گذشته اجیران شان را حمایت هوای وزمینی نمایند،لذا امریکای ها گویا مجدداً وارد نبرد با مجاهدین امارت اسلامی شدند که لله الحمد شمار زیادی شان در هلمند،ننگرهار وقندوز به کام مرگ فرستاده شدند،اشغالگران وحشی ومزدوران تربیه کرده شان طبق عادت دیرینه خود بعد از شکست قریه وقصبات را هدف بمبارد مان بی رحمانه خویش قرار داده وانتقام عساکر شانرا از کودکان،خانم ها وبطور عموم از مردم بی دفاع کشور میگیرند،با این همه جنایات نابخشودنی ونقض حقوق بشر بازهم یک قدم پیش روی کرده نتوانسته اند ونخواهند توانست.

این در حالیست که به اساس محاسبه نظامی مجاهدین،در مدت بیست یک روز گذشته در تمام افغانستان۱۷۵عراده تانگ،٦۱رینجر،٤۱عراده جات مختلف النوع غنیمت گرفته شده است،همینگونه دها تانگ ووسایط نظامی دیگر اداره اجیر تخریب وطعمه آتش گردیده است،به همینمنوال حدود ۱۰۱۰ تن عسکر وپولیس دشمن کشته وبیش از ۷۲۵تن زخمی شده اند،این ارقام در واقعیت از حالت فلاکتبار رژیم کابل وازمورال عالی مجاهدین در عملیات جاری کشور حکایت میکند وبطور واضح ثابت می سازد که دیگر دشمن تاب مقاومت را ازدست داده اند ونباید بیشتر ازاین خود را قربانی اهداف شوم کفار بسازند،ان شاء الله دیری نخواهد گذشت که پرچم سفید مزین با کلمه توحید بر فراز تمام ادارات دولتی در کل کشور به اهتزاز خواهد درآمد.

فشرده اینکه سرعت امواج وگسترش عملیات عمری نشان میدهد که اگر خدا بخواهد آینده افغانستان روشن وباثبات خواهد شد،وملت افغان بسیار به زودی خاک غصب شده خود را از چنگال صلیبیان آزاد می سازند،عملیات موفق عمری که با خود الهام وپیام اشکاری از آزادی کشور عزیزدارد همانند صاعقه آسمانی بردشمنان دین ونوامیسی اسلامی نازل وتأثیر گذاشته است،وهمه دسایس شان رانیز به ناکامی مطلق مواجه گردانیده است،وان شاءالله العزیزاشغالگران آرمان شوم خویش را بخاک خواهند برد.

دجهـاد فقهي مسـائل

مفتي ابو محمد (حقاني)
[۳۱مه برخه]

کفارو سره دجګړې د اختتام اسباب:

اســلام منل، جــزیه ورکول، یا ســوله!

دسولې پر معاهده دفاسدو شرطونو اغیز:

دفقهاووتر مینځ پدې مسئله کې اختلاف دی، چې دسولې په معاهده یا ترون (عقدالهدنة) کې چې کله شروط فاسده ولیکل شي آیا دا عقدصلح یا دسولې ترون پرې فاسد شو او که نه؟ که دبیاعاتو او معاوضاتو عقودو ته وکتل شي، نو باید چې فاسد شي ،ځکه هلته چې کله فاسدشرط ورسره منضم شي، نود ثمن دجهالت له امله دبیعې دفساد صورت رامینځ ته کیږي او که دمناکحاتو دعقودو په شان وي ،نو بایدچې دمهرونودفساد په صورت کې دنکاح دعقد غوندې باطل نشي، نو داچې دا دسولې عقد دی او خپله جلا او بیل حکم لري،نو پدې ډول یې تفصیل په (الموسوعة الفقهية)کې ددې کتابونو (الفتاوى الهندية ۲ / ۱۹۷، ،مطالب أولي النهى ۲/ ۵۸۷، ،المغني لابن قدامة ۸ / ٤٦٦ ، ،الحاوي للماوردي ۱۸ / ٤۱۲ ، ،مغني المحتاج ٤ / ۲٦۱ . حاشية الشرقاوي على التحرير ۲ / ٤۱۹ ط الحلبي ، ،المغني ۸ / ٤٦٦ ، ،الدسوقي ۲ / ۲۰٦ ، ،الخرشي ۳ / ۱۵۰ ،اومغني المحتاج ٤ / ۲٦۳ . په حواله پداسې عبارت رانقل شوی :

اخْتَلَفَ الْفُقَهَاءُ فِي فَسَادِ عَقْدِ الْهُدْنَةِ عِنْدَ اقْتِرَانِهِ بِشَرْطٍ مِنَ الشُّرُوطِ الْفَاسِدَةِ . فَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ فِي الْمَذْهَبِ ، وَالشَّافِعِيَّةُ فِي مُقَابِلِ الصَّحِيحِ إِلَى أَنَّهُ لَوْ شُرِطَ فِي عَقْدِ الْهُدْنَةِ شَرْطٌ فَاسِدٌ بَطَلَ الشَّرْطُ وَلا يَجِبُ الْوَفَاءُ بِهِ وَلا تَبْطُلُ الْهُدْنَةُ (۳) لأَنَّهَا لَيْسَتْ كَالْبُيُوعِ مِنْ عُقُودِ الْمُعَاوَضَاتِ الَّتِي تَبْطُلُ بِفَسَادِ الشَّرْطِ ؛ لِمَا يُؤَدِّي إِلَيْهِ مِنْ جَهَالَةِ الثَّمَنِ ؛ وَلَيْسَتْ بِأَوْكَدَ مِنْ عُقُودِ الْمُنَاكَحَاتِ الَّتِي لا تَبْطُلُ بِفَسَادِ الْمَهْرِ وَذَهَبَ الْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ عَلَى الصَّحِيحِ وَالْحَنَابِلَةُ فِي وَجْهٍ إِلَى فَسَادِ الشَّرْطِ وَالْعَقْدِ مَعًا ، أَمَّا فَسَادُ الشَّرْطِ فَلأَنَّهُ أَحَلَّ حَرَامًا ؛ وَأَمَّا فَسَادُ الْعَقْدِ فَلاقْتِرَانِهِ بِشَرْطٍ مُفْسِدٍ ...) دپورتني عبارت خلص مفهوم :دسولې په معاهده کې دفاسدو شرطونودلیکلو او اقتران له امله دسولې دترون دعدم نفاذاو انحلال یا فساد په باب فقهاوو اختلاف کړی ،احناف علماء رح ، حنابله فی المذهب او شوافع علماء رح دخپل بل صحیح شوي قول په مقابل کې

داخبره کوي ،چې که چيرته دسولې په تړون کې فاسد شرط وليکل شي ،نو دا شرط فاسد دی او پدې شرط باندې وفا ضرور نده ،خودسولې معاهدې ته پرې زيان نه رسيږي ، داځکه چې دا نه دبيوعاتو په شان ده چې دفاسدو شرطونوپه وجه دځمن دجهالت له امله فاسده شي او نه دمناکحاتودعقودو نه موکده ده ،چې دمهر په فساد سره باطليږي ، او مالکيان علماء رح ،شوافع رح او حنابله علماء رح په يوه وجه داسې وايې ،چې شرط او دسولې عقد دواړه فاسد دي ،داځکه چې دې فاسد شرط سره دحرامو حل راغلی دی اودې سره فساد راځي او دسولې دتړون فساد لدې امله راغلی، چې دا ديوه مفسد شرط سره مقارنت لري .

دسولې د تړون حکم (صفت)

دسولې دمعاهدې يا عقدالهدنه کې دفقهاوو ترمينځ اختلاف دی ،احناف علماء رح فرمايې چې دسولې تړون عقدلازم نه دی ،بلکې دنقض احتمال پکې شته دی، کله که دمسلمانانوقيادت دمعاهدې په ماتولويا نقض کې خير وکوت او مسلمانانوته يې پکې ګټه وليده ،نو نقض يې بيا جايز دی او جمهور علماء رح فرمايې چې دا عقد لازم دی ،کله چې عقد صحيح واقع شي، نو نه امام عقدنقض کولای شي اونه دده نه پس نورو بادشاهانوته ددې جواز شته ،چې دا دسولې معاهده ماته کړي ،ددې مسئلې تفصيل په الموسوعة الفقهية کې پدې ډول دی : اخْتَلَفَ الْفُقَهَاءُ فِي صِفَةِ عَقْدِ الْهُدْنَةِ أَهُوَ لازِمٌ أَمْ جَائِزٌ ؟ فَذَهَبَ جُمْهُورُهُمْ - الْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ - إِلَى أَنَّهُ عَقْدٌ لازِمٌ ، فَإِنْ وَقَعَ صَحِيحًا فَلَيْسَ لِلإِمَامِ الْعَاقِدِ وَلا لِلأَئِمَّةِ بَعْدَهُ نَقْضُهُ ، وَلَزِمَ الْوَفَاءُ بِهِ حَتَّى تَنْقَضِيَ الْمُدَّةُ ، أَوْ يَصْدُرَ مِنْهُمْ مَا يَقْتَضِي الانْتِقَاضَ مِنْ قِتَالٍ أَوْ غَيْرِهِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى : { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ } سورة المائدة / ١ .....

دعبارت خلص مطلب دادی چې :دسولې دمعاهدې دحکم په باب چې دا عقد لازم دی که جايز ؟دفقهاوو ترمينځ اختلاف نظر موجود دی،جمهور فقهاء ـ مالکيان رح ،شوافع رح او حنابله رح پدې نظر دي، چې دا عقد لازم دی ،تر خپلې تاکلې مودې پورې پدې عقد وفا ضرور ده، نه دمسلمانانو هغه بادشاه چې دا معاهده يې لاسليک او نه ترې وروستنيو ائمه وو ته ددې جواز شته، چې ددې معاهدې نقض وکړي ،مګر هغه وخت بيا پرې وفا نده واجب ،چې دمقابل لورې نه داسې کار صادر شي، چې هغه ددې مقتضي ـ وي، چې دعقد انتقاض يا دعقد شکنۍ سبب شي ،لکه دقتال او جګړې پيل چې ددوئ لخوا وشي ،نو پدې صورت کې بيا دسولې معاهده ورسره ماتيدای شي ،ځکه الله تعالی فرمايې : { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ } (سورة المائدة / ١) ، وَقَوْلِهِ عَزَّ مِنْ قَائِلٍ : { فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَى مُدَّتِهِمْ } (سورة التوبة / ٤ .) همداسې که چيرته دا دتړون عاقد امام وفات شو،نو هم به ددې معاهدې فسخه نه کيږي ،البته که چيرته دسولې دعقد فساد په نص يا اجماع سره ښکاره شو، نو فوري به يې نقض کوي اومعاهدو کافروته به ددې نقض خبر ورکول کيږي، ترڅو هغوئ خپلو محفوظوځايونو ته ځانونه ورسوي ، که

امام دځان لپاره دسولې په تړون کې داسې کومه ماده دصحت شرط وګرځوله چې لزوم يې منفي وو،نو شوافعو او هم دحنابله وونه قاضي ابويعلى رح ددې په جواز او نور حنابله يې منعې يا نه جواز باندې معتقد دي، همداسې امام ته ددې هم جواز شته، چې دسولې تړون دبل کوم مسلمان تر مشيئت پورې معلق کړي، خو دا په هغه صورت کې چې دا درې شرطونه پکې موجود وي ۱-چې دا ددين په چارو کې داجتهاد دخاوندانو دزمرې نه وي .۲-چې ددنيوي اموراتوپه تدبير کې داصحاب الرأى نه وي .۳-چې په حقوق الله او حقوق العباد کې دامانتدارو خلکو له ډلې څخه وي ،که چيرته پکې دا پورتنې شرطونه پوره شول، نو دسولې تړون دده دمشيئت او خوښې پورې موقوف کيدای شي، که نه بيا نشي کيدای ،حنابله فی المذهب وايې : چې که چيرته امام دځان لپاره دسولې په معاهده کې داسې شرط ولګاوه، چې زه به يې دنقض صلاحيت لرم ،نو ددې عقد الهدنه حيثيت نشته او نه صحيح دی ،ځکه دا شرط دمعاهدې له مقتضياتو سره اړخ نه لګوي ،ددې داسې مثال دی ،لکه يو سړی دبيع يا نکاح په عقد کې داسې شرط ولګوي ،چې دا نا روا ده.

احناف فقهاء رح فرمايې :چې دسولې معاهده غيرلازم او دنقض احتمال يې شته ،کله چې دمسلمانانوبادشاه کفارو سره په سوله کې دمسلمانانوخيراو ګټه وليده، سوله دې ورسره وکړي او که بيا يې ضرر يا تاوان وليد، نقض دې يې کړي ،دا ځکه په انتهاء کې داسې څه رابنکاره شول، چې که احيانا په پيل کې وی ،نو له سره به يې ورسره سوله نوی کړی او بل داچې کله مصلحت بدل شو،نوبيرته يې نبذ جهاد ته وشو،نو جهاد به ورسره پيل شي ،خو کفارو سره په عهد صلح پاتيدنه صورةً او معنىً دجهاد ترک دی او دايو داسې کار دی ،چې نا جايز اوهيچا يې دجواز په باب قول ندی کړی .

کله چې امام دسولې دتړون دنقض پريکړه وکړه، نو ضرور ده، چې مقابل لورې ته ددې اعلان وکړي او هغوئ پرې خبرکړي ،چې ددوئ سره تړون مات شوی او دومره وخت ورته ورکړي، چې هغوئ پکې خپلو محفوظوځايونو ته ځانونه ورسوي ،داددې لپاره چې غدرپکې ورسره رانشي۔ او دا غدر په عموماتو سره حرام دی لکه نَحْوَ مَا صَحَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " أَرْبَعُ خِلالٍ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا : مَنْ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ " (أخرجه البخاري (فتح الباري ٦ / ٢٧٩ ـ ط)

دسولې دمعاهدې دنقض په باب به دومره وخت دوئ ټولوته او يا ددوئ امير ته ورکول لازم وي، چې هغه پکې دخپل هيواداتباع دسولې دماتيدو نه مطلع يا خبرکړي .....

نوربيا.....

مطبوعاتي جهاد

داسلامی نړی ستر عالم (شیخ ابو قتاده حفظه الله)

یادښت: له شیخ ابو قتاده رحمه الله څخه دا پوښتنې د شام مجاهدینو کړي، خو څنګه چې مذکوري پوښتنې هماغه دي، چې د افغانستان د مجاهدینو لپاره هم ګټورې دي، نو د افادیت د تعمیم لپاره مو چاپ ته وسپارلې!

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله ومن والاه.

علامه شیخ ابو قتاده صیب! الله جل جلاله دې ستاسې حفاظت او ساتنه وکړي او الله جل جلاله دې تاسې په حق باندې ثابت قدم لري.

شیخ صیب! د شام په جهادي ساحه کې ځینې ملګري په مطبوعاتي برخه کې کار کوي دا ځینې پوښتنې یې تاسې ته رالیږلي او ځواب ته مو منتظر دي الله جل جلاله دې تاته ښه جزاء درکړي.

پوښتنې: زمونږ فاضل شیخه! الله جل جلاله دې ستا حفاظت او ساتنه وکړي!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته:

(۱) کوم مجاهد چې په جهادي مرکزونو کې مطبوعاتي فعالیت لکه (جهادي فلمونه ایډیټ کول یا انځورونه ډیزاین کول او داسې نور) کوي آیا هغه ته د مرابط في سبیل الله اجر ورکول کیږي، زمونږ مقصد هغه احادیث دي چې د رباط في سبیل الله د فضیلت په اړه راغلي، لکه دا چې (دالله جل جلاله په لاره کې یوه ورځ رباط د حجر اسود په څنګ کې دلیلة القدر د شپې له سبا کولو څخه زیات فضیلت لري؟

او آیا که چیرته کوم مجاهد په دغه حال کې ووژل شي، د دې عمل اجر د قیامت تر ورځې پورې ورکول کیږي؟

(۲) کوم ملګری چې په مطبوعاتي برخه کې په روزنه کې تقصیر کوي او د دې تقصیر له امله د جهاد د مخالفانو رسنیز فعالیت یا د غلاتو رسنیز فعالیت یا د نورو فعالیت غالب شي او په نتیجه کې یې ګڼ شمیر ځوانان د غلاتو لیکو ته جذب شي، آیا د دې له امله تقصیر کوونکی ملګری ګناهګار ګڼل کیږي؟

ځکه ډیر ملګري په جهادي فعالیتونو کې په رسنیز ډګر کې کار کول نه خوښوي، بلکې جګړه ایز یا د تصنیع او نورو برخو کې په شوق کار کوي.

نو شیخ صیب مونږ غواړو چې په دې اړه یو ځانګړې توصیه وکړې ترڅو دا برخه همدا سې خواره پاتې نشي.

شیخ ابو قتاده حفظه الله په ځواب کې ورته ولیکل:

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

زما مسلمانه وروره! پدې ښه ځان پوه کړه، چې داسلام په تاریخ بلکه دملتونو په تاریخ کې دجهاد او قتال له سترو کارونو څخه رسنیز فعالیت او مطبوعاتي کار دی،

د ځان دوجود ثابتولو او دغلبې نیمایې همدا رسنیز فعالیت دی، دا وګورئ زموږ رسول صلی الله علیه وسلم حسان رضی الله عنه هڅوي ترڅو دمشرکانو هجوه وکړي، او هغه ته وایي چې ستا کلام په هغوی دغشو له ګذارونو څخه هم بد لګیږي.

مسلم په خپل صحیح کې له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دقریشو هجوه کوئ دا په هغوی باندې دغشو له فایرونو څخه هم بد تمامیږي، لومړی ابن رواحه ته یو څوک ورولیږه چې دکفارو هجوه وکړي، هغه یې هجوه وکړه، رسول الله پرې اکتفاء ونه کړه، بیا یې کعب ابن مالک رضی الله عنه ته ورولیږه چې دمشرکانو هجوه وکړي، بیا یې حسان ابن ثابت رضی الله عنه ته ورولیږه، چې کله حسان رضی الله عنه ته ورننه ووت حسان وویل: تاسې ته نږدې ده چې دغه لکی وهونکي زمري ته یې راولیږئ (ځان یې له زمري او خپله ژبه یې دزمري له لکی سره تشبیه کړه زمری چې کله په قهر شي خپله لکی یوه بلې خوا ته وهي) بیا یې ژبه راوویسته یو او بل لوري ته یې وښوروله او ویې ویل: قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه رالیږلی یې زه به یې په خپله ژبه داسې تار تار کړم لکه څنګه چې پوستکی شکول کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: عجله مه کوه ځکه ابو بکر رضی الله عنه ته دقریشو نسبونه ښه ورمعلوم دي، زه هم په قریشو کې نسب لرم ترڅو زما نسب په لنډه توګه درته وښایې (داسې نه چې زما دنسب هجوه وکړې) حسان ورغی بیا راستون شو او ویې یارسول الله! ماته یې ستا نسب په لنډه توګه راوښود، قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه رالیږلی یې، زه به ستا نسب له هجوې داسې روغ رمټ باسم لکه له اوړو چې ویښته باسل کیږي، عائشه رضی الله عنها فرمایې: چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم واوریدل چې حسان رضی الله عنه ته یې ویل: روح القدس جبرائیل به تل ستا تائید او ملاتړ کوي ترڅو چې ته له الله جل جلاله او دهغه له رسول څخه دفاع کوې.

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایې: چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم واوریدل چې ویل یې: حسان یې هجوه وکړه دمسلمانانو زړونه یې هم یخ کړل او خپل زړه یې هم یخ کړ.

همدغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر فاروق رضی الله عنه ته امر کوي چې ابو سفیان ته داحد له غزا وروسته ځواب ورکړي او ځواب هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورښیي:

امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کې له براء ابن عازب رضی الله عنه څخه روایت کړی چې موږ داحد دغزا په ورځ له مشرکانو سره مخامخ شوو، رسول الله صلی الله علیه وسلم دغشو ویشتونکو یوه ډله په غونډې کښینولە او عبد الله رضی الله عنه یې وربانډې امیر وټاکه، (په دې اوږد حدیث کې وروسته راځي) چې ابو سفیان سر پورته کړ او ویې ویل: آیا په تاسې کې محمد شته؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ځواب مه ورکوئ، هغه وویل: آیا په تاسې کې ابن ابي قحافه (ابو بکر رضی الله عنه (شته؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم

وفرمایل: ځواب مه ورکوئ، هغه وویل: آیا په تاسې کې د خطاب زوی (عمر رضی الله عنه) شته؟ بیا یې وویل: دا ټول وژل شوي ځکه چې ژوندي وای نو ځواب به یې راکړی وو، عمر رضی الله عنه په خپل ځان توان له لاسه ورکړ او ویې ویل: درواغ دې وویل: ای دالله دښمنه! الله جل جلاله هغه خلک لا ژوندي پرې ایښي چې تا به پرې رسوا کړي، ابو سفیان وویل :هبل (دبوت نوم) لوړ شه، نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ځواب ورکړئ، اصحابو وفرمایل: څه ورته ووایو؟ ویې ویل: ورته ووایئ: الله جل جلاله لوړ او لوی دی، ابو سفیان وویل: موږ عزی (دبت نوم) لرو او تاسې عزی نه لرئ. نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ځواب ورکړئ، اصحابو وفرمایل: څه ورته ووایو؟ ویې ویل: ورته ووایئ: الله جل جلاله زموږ مولی دی او تاسې مولی نلرئ.

همدغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل شاعر ته خپل منبر سموي ترڅو دهغه صلی الله علیه وسلم او اسلام په اړه حق کلام ووایې، نو هغه خلک کومه خوا روان دي چې دا ستر او عظیم کارونه پریږدي او التفات نه ورته کوي؟؟

په امیر باندې لازم او واجب دي چې یوه ډله خلک دې ته فارغ کړي چې په خبرو دحق مرسته وکړي لکه څنګه چې یو مجاهد دټوپک په شپیلئ دحق لپاره مبارزه کوي، که په خپله نه تیاریدل په زور دې یې دې کار ته آماده کړي، که جهاد له دغه ستر کار څخه خالي پاتې شو نو نه موږ خپل ځان چاته ورپیژندلی شو او نه په خپلو دښمنانو رد کولای شو او نه ځوانان او سړي راجلبولی شو چې دسنګرونو او جبهاتو خلاوې ورباندې ډکې کړو.

دغه کار فرض کفایې دی ،که ټولو مجاهدینو پریښود بلا استثناء به ټول ګناهګار وي، دا کار له جهاد او قتال سره برابر دی، بلکې په خپله جهاد دی، عربو به دسفر لپاره ټپه ویونکی کرایه کاوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دا کار کړی، نو چې کله یو انسان یا حیوان په خپل سفر کې داسې ټپو او اشعارو ته اړتیا لري، ترڅو په سفر باندې توان پیدا کړي، نو آیا مجاهدین هغه چا ته حاجت نلري ،چې دهغوئ خبرونه او انځورونه او پیغامونه نقل کړي، ترڅو یې زړونه تقویه او نفسونه یې ثبات پیدا کړي؟

له هغه چا به څوک زیات اجر ولري ،چې تحریض علی القتال کوي، له مجاهدینو دفاع کوي، دهغوی خبرونه نشر کوي، او پدې توګه دډیر مسلمانانو زړونه خوشحالوي.؟

ډیر هغه حق چې مجاهد پکې عملا او علما حقا او صدقا واقع دی، که چیرته ترشا داسې څوک ونلري، چې ویې لیکي او ثبت یې کړي، نو فوت کیږي او اثر یې له منځه ځي.

او قسم په الله کـه زه داسې ووايم ،چې رسنيز فعاليت کوونکي مجاهدين له ډيرو هغو مجاهدينو څخه ستر اجر لري ،چې مخامخ په جګړه کې برخه اخلي، نو نه به ګناهګار شم او نه دا ليري خبره ده.

زمونږ ډيرې هڅې له همدې امله ضائع کيږي او اغيار يې غلا کړي، که چيرته رسنيز کنډ کونه ونلرو ، چې په غاړه يې واخلي ثبت يې کړي او په ربنتوني بڼه يې نشر ته وسپاري.

ډير هغه دروغ چې موږ پرې تورن يو ،د بيان په زور او دخلکو له خبرولو پرته يې بله د دفاع لاره نشته.

ډير مسلمانان ځوانان دګمراه، مبتدع او کافر دښمن مطبوعاتي ځواک په سبب له موږ څخه غلا کيږي.

ډير کرته موږ د صادقانو له دعاء څخه ځکه محرومیږو ،چې هغوی زمونږ له خبرونو څخه ناخبره وي.

ډيـر نفسـونه هغـه وخـت ترقـي کـوي او خوشحاليږي، چې کله هغوئ دا درک کړي، چې مسلمانان زمونږ په فتوحاتو او خبرونو خوشاليږي، نو دهغوی نفسونه لازياتې قربانۍ ، ورکړې او ځان فدا کولو ته تياريږي، ځکه کله چې هغوی ګوري چې زمونږ قربانۍ بې ځايه نه ځي، بلکې پدې سره دمجاهدينو ملاتړ نور هم زياتيږي، نو په ډير شه زړه پرمختګ ځان فدا کولو ته چمتو کيږي.

په رسنيزه جګړه کې هره نوعه تقصير په نظامي جګړه کې له تقصير څخه زيات زيان لري، او په مطبوعاتي برخه کې د تيروتنې تاوان هم د جګړې په ميدان کې له تيروتنې زيات تاوان لري.

او قسم په الله! کوم مجاهدين چې پدې ميدان کې کار کوي او شپه شوګير کوي، دهغوئ شوګير د هغه پهره دار له شوګير سره په اجر کې برابر دی، چې په جبهو او سنګرونو کې پهره کوي، هغه ته خپل اجر هم ورکول کيږي او دهغه په څير دنورو هم، او هغه ته دهغه عالم اجر هم ورکول کيږي، چې د شريعت ديوې مسئلې د تحقيق او څيړنې لپاره شپه رونوي، او که پدې حال کې مرګ ورته راغی، چې په اخلاص او د ثواب په نيت خپل دې کار ته دوام ورکوي، دی به له خپلو هغو ملګرو سره يوځای راپورته کيږي، چې دبمباريۍ لاندې يا په مرمۍ وژل شوی وي.

او دغه ستر ګه چې په مطبوعاتي فعاليت کې ويښه پاتې کيږي ،دا دهغې ستر ګې په څير ده، چې دالله جل جلاله په لاره کې پهره کوي.

زه د نصيحت په توګه دمجاهدينو مشرانو ته وايم ، چې که چيرته کوم داسې ملګری پيدا شو ، چې دمطبوعاتي فعاليت وړتيا لري او په سمه توګه دا کار کولی شي، خو بيا هم د دې کار له کولو ډډه کوي، نو له جهاد او قتال څخه يې منعه کړئ، ترڅو د خپل نفس له خوشحالولو څخه محروم شي، ځکه هغه کار پريښود ل چې د جهاد له مصالحو څخه وي او په ځای يې داسې کار کول، چې ده خوند ورکوي، دا يوه نوعه د نفس خوشحالول دي، د شرعي جهاد مقصد ندی.

الله جل جلاله دې ټولو ته دهغو اعمالو د کولو توفيق ورکړي، چې دهغه خوښ او هغه پرې راضي کيږي.

او ټولې ستاينې الله رب العالمين لره دي.

آیا جدایی سیاست از اسلام ممکن است؟

- نویسنده: داکتر عماد الدین خلیل
- ترجمه: احسان الله همت

(أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (۲۱)) (الشوری)

و ما همیشه می گوئیم که این حق سیکولارها است تا برای جدائی دین از دولت فراخوانی کنند و بر این روش خود صبح و شام در روزنامه ها، رادیو ها، ماهواره ها، سیمینار ها و کنفرانس ها تاکید نمایند و این که بر مفاهیم حکومت اسلامی چنان بتازند، و برای رد آن و اثبات بطلان آن چنان تلاش ورزند که زبان های آن ها خشک شود و گلو های آنها پاره گردد. و اینکه در این زمینه کتاب های بنویسند و تحقیقاتی انجام دهند. هیچ کسی مانع آنها نخواهد شد، زیرا این چیزی است که آنها از روی قناعت آزاد البته در تصور-غلط- خود به آن رسیده اند.

زمانی که کتاب خدا (قرآن) به این فرمودهٔ خوده (فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ) (الکهف:۲۹) حتی به کافران و کفر اجازه می دهد تا موجود باشند، آیا اجازه نمی دهد تا یک گروه موازی از مردم که به خدا و روز آخرت باور دارند لیکن به سیکولاریستی معتقد هستند و برای جدائی دین از دولت فراخوانی می کنند وجود داشته باشند؟!

اما آنان هیچ گاه این حق را ندارند که برای کناره گیری اسلام گرایان از عقیده راسخ خود، در ارتباط به حکومت اسلامی، که در کتاب خدا (قرآن) و سنت پیامبر (ص) او بر آن تاکید شده است تلاش ورزند.

نباید آنها (اسلام گرایان (را دنبال کنند و شدید ترین مقررات و رویه های خون آلود پولیسی را برای مانع شدن آنها (اسلام گرایان) از این قناعت بکار گیرند. درست چنانچه اسلام گرایان به مخالفین خود این حق را میدهند که تا سیکولاریسم را پذیرفته و برای آن فراخوانی کنند، پس بر آنها (سیکولاریست ها) نیز لازم است که به اسلام گرایان این حق را بدهد که به رابطه اجتناب ناپذیر بین دین و دولت باورمند باشند، برای آن دعوت کنند، و برای پیاده سازی آن در زندگی عملی تلاش ورزند.

اما آیا کسی حق این را ندارد که بپرسد: چگونه سیکیولارها این میلان ذهنی -که نخست- منافی بدیهیات اسلامی است، را توجیه می کنند، که در واقع به عملیه جمع یک مالته با دو سیب که حاصل جمع آن سه باشد شباهت دارد.

در صورتی که روش، پیروی از تجربهٔ مغرب زمین باشد که در آن سیکولاریسم به عنوان دوای کامیاب برای از بین بردن سلطهٔ غیر منطقی و غیر عملی کلیسا بر قابلیت های دانشمندان و محققان بود، و کلیسا را مجبور به پذیرفتن استدلال های غلط و ارتجاعی نمود .از همین رو این یک اشتباه بزرگ است، زیرک فرانسوی کهنه سال «تالیران» در مورد آن چنین می گوید: "این

اشتباه است و اشتباه بزرگتر از جرم"، چرا که در اسلام چنانچه محقق معاصر انگلیسی «رام لاندو» در کتاب خود«اعراب و اسلام «می گوید: دین و دانش با هم در جاده ها راه رفت، در حالی که همدیگر را تقویت می کردند، زیرا این هر دو بر وجود خداوند پاک و متعال تاکید می کنند و برای آن تلاش می ورزند.، اما اگر این قضیه به فهم نادرست از مطالب این دین رابطه دارد، و یا عدم آگاهی از اهداف اساسی آن، پس در این صورت آن موقف گیری نیازمند گفتگو است.

آیا فکر میکنید که آنها کتاب خدا را یک بار هم با ذهن باز نخوانده اند .. تنها یکبار؟ که در آن این آیات یکی پی دیگر آمده است: (وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ (٤٤))(المائدة)، (وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (٤٥)) (المائدة(،)وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (٤٧)) (المائدة) آیا فکر می کنید که این آیتی کریمه را که حکم (قانون گذاری) در آسمانها و زمین را به دست خداوند پاک و متعال قرار میدهد: (وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَهٌ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ (٨٤)) (الزخرف)، آیا فکر میکنید که آنها یک روزی هم به این فکر نشدند که چطور ممکن است احکام شریعت اسلامی را در تمام بخش های فردی و اجتماعی زندگی پیاده کرد؟ مگر این که دولتی موجود باشد و نهادهای آن دست به اجرای این عمل بزند؟!

آیا فکر می کنید که آنها تاریخ اسلام را، با تلاش لازم، نخوانده اند؟ تاریخی که از همان آغاز خود در عصر رسالت در جستجوی یک محیط مناسب برای استقرار دولت اسلامی بود، و چگونگی سفر رسول خدا "ص" به طائف، ارتباط گرفتن به بیشتر از ده قبیله در آنجا، سپس بیعت با انصار در بیعت های اول و دوم عقبه، که تاکید بر لزوم ایجاد یک دولتی که نه تنها بر تطبیق قانون خدا بر روی زمین اکتفا نماید، بلکه - همچنان- برای محافظت آن از خوردگی (درونی)و تجاوز (بیرونی) نیز تلاش ورزد.

بازهم آیا آنها متوجه نشده اند که مسلمانان چگونه در سقیفه بنی ساعده، برای حل مشکل جانشینی، باهم جمع شده بودند، در حالی که هنوز جنازه رسول خدا "ص" خاک سپاری نشده بود. دیری نگذشت که آنها ابوبکر صدیق را انتخاب کردند، که گام های بلندی برداشت، و بعد از او برادران راشد او، که در تایید مفاهیم حکومت اسلامی به نوبه خود قدم های برداشتند

آیا فکر میکنید که آنها حتی یک نگاه معمولی، در منظومه بارور فقه اسلامی در تمام زمینه ها از جمله فقه مقاصد، فقه تعادل، فقه سد ذرائع و مصالح مرسله و فقه فتوا داشته است؟ تا آنها با چشم خود ببینند که چگونه فقه به تمام سوالات خورد و بزرگ مربوط به دولت اسلامی، پاسخ داده است؟

به هر حال، این حق ایشان است که نه خوانند، نبینند و تحقیق نکنند..و این که در مورد این موضوع که مهم ترین موضوع عقیده، فقه و تاریخ اسلامی را تشکیل میدهد نابینا باشند، لیکن هیچ گاه این حق را ندارند که بر مجبور ساختن اسلام گرایان بر کنار گذاشتن آنچه بطور آشکار قضیه مهم دینی است، تلاش ورزند.

آیا این -بار دیگر- اشتباه بزرگتر از جرم نیست؟

در واقع این سیکیولارها آنچه را بر دین روا میدارند که خداوند آن را مجاز ندانسته، پس مرتکب ظلمی می شوند که خداوند بسبب آن وعید عذاب دردناکی داده است و الله بزرگ راست گفته است.



عبدالرزاق حبيبي

د سپټمبر ۱۱ مه:

دوولس کاله وروسته هم د امریکا د انتقام اور سوړ نه شو !!

د سپټمبر یوولسمه په عمومي ډول د مسلمانانو او په ځانګړي توګه د افغانستان په تاریخ کې هغه توره ورځ ده، چې د مسلمانانو پرخلاف پکې یوې نړیواله دسیسې رنګ واخیست او د یوارخیزې نړۍ یوازښې اتل امریکا پر مسلمانانو را ودانګل. دا هغه کرغېړنه ورځ ده، چې د نړیوال استعمار سرلاري امریکا د خپلو څو زره امریکایانو د وژل کېدو په بهانه د ټولې نړۍ د تسخیر د خوبونو په حقیقت بدلولو لپاره ګام پورته کړ، نړۍ یې په دوه برخو ووېشله یو هغه، چې د صلیب په خدمت کې وي او بل هغه چې د اسلام تر چتر لاندې ژوند کوي. هغوی، چې ځانونه د اسلام اصلي پاسدارن بولي هم د اسلام ځپلو ددې نړیوالې دسیسې- سره یوځای او هر ځای یې د دې دین اصلي پاسداران داسې په بې رحمۍ سره شکنجه او یا هم شهیدان کړل، چې تاریخ به یې هیڅکله هېر نه کړي.

دا چې د سپټمبر د یوولسمې برید چا کړی و، موخه یې څه وه او پایلې یې څه شوې، اوږده کیسه ده،خو ځرګنده ده چې امریکا او ملګرو یې په ډېرې سپېن سترګې ددې برید د ترسره کونکو د نیولوپه پلمه، د افغانستان په ډول پر یو بېچاره، جنګ ځپلي او وېجار هېواد د خپلو دنګو ودانیو بیا ودانولو لپاره برید وکړ، په ړندو بمبارېو یې په زرګونو بې ګناه وګړي، چې د امریکا د شتون څخه هم خبره نه و په ډېرې بې رحمۍ سره په ابدي خوب ویده کړل، ددې هېواد د ډېرو زلمیانو خوبونه یې له خاورو سره خاورې او د ډېرو مینډو ارمانونه یې د هغوی له وینو سره یو ځای خښ کړل چې نن دوولس کاله وروسته هم دا لړۍ دوام لري او یوازې څو ورځې وړاندې په کونړ کې د هغه بمبارۍ یادونه کولای شو چې د ناټو ځواکونو د ښځو او ماشومانو په ګډون پکې شا اوخوا پنځلس تنه، په ډېرې بې رحمۍ سره په خپلو وینو ولمبول.

دوولس کاله مخکې امریکا او ملګري يې دلته ددې لپاره راغلل، چې د دوی په اند هغه ګواښ چې لدې ځايه دوی ته متوجه و، له منځه يوسي، ددې هېواد هوايي او ځمکنی حريم يې په خپل کنترول کې واخيست او افغانستان يې په عملي ډول اشغال کړ، خپل پوځونه يې دلته راوستل ، ددې هېواد پر ځمکه اوفضايې خپل کنټرول دومره ټينګ کړ، چې پر هغه پوخ سړک چې دوی د ځان لپاره جوړ کړی و، ددوی له اجازې پرته څوک نشي مخکې کېدی، په هوا کې د افغان الوتکو د پرواز او پوښتنې کولو خو سوال نه پيدا کېږي.

په ټېرو د وولس کلونو کې امريکا پرافغانانو هغه کړنې ترسره کړې، چې په ټېر تاريخ کې يې ساری نه ليدل کېږي، شوروي پوځونو هم پر دې هېواد يرغل کړی و، په مليونو يې شهيدان او کډوال کړل ،خو د امريکا ظلمونو له مظلومو افغانانو د يرغلګرو شورويانو ظلمونه هېر کړل، حقايق ترخه وي خو هېرول او بل نسل ته يې نه رسول جنايت او خيانت دی. امريکايي ځانګړيو ځواکونو په توره شپه کې د افغانانو په کورونو بريدونه وکړل او د افغان کولتور او اسلامي شريعت هربريد يې مات کړ،نه يې پر مېرمنو رحم وکړ اونه پرماشومانو،ژوندي خولاپرېږده چې امريکايانو او دهغوی اروپايي متحدينو د افغانانو په مړيو هم رحم ونه کړ،متيازې يې پرې وکړې، ويې سوزول، قرآن کريم يې ورته په تشناب کې وغورځاوه، کانونه يې لوټ کړل، فحشاء يې په ملک کې عامه کړه او... چې دا ټولې هغه کارنامې دي، چې امريکا او ملګرو يې د خپل هدف د لاس ته راوړلو لپاره تر اوسه هم ترسره کوي او دوام ورکوي.

امريکا په ټېرو دولسو کلونو کې څه لاس ته راوړل؟

پر افغانستان د امريکا د برید وروسته په دې هېواد کې ستر بدلونونه تر سترګو شول، خو دا بدلونونه تر ډېره بريده د امريکا په ګټو پورې تړلي و، دا چې په ټېرو دوولس کلونو کې امريکا افغانستان ته څه ورکړل او خپله يې څه لاس ته را وړل په لاندې توګه ورته په لنډ ډول اشاره کېږي:

په ټولنيزه او اخلاقي برخه کې

په افغانستان کې د تعصب اور ته په پراخه ډول لمن ووهل شوه، هغه قومونه چې پخوا يې د ورونو په ډول ژوند کاوه د يو بل دښمنان وګرځېدل، د سياسي ګټو لپاره هرځوک د خپل قوم دمخکې کېدو او د بل د حقوقو تر پښو لاندې کېدو هڅه کوي، د شيعه او سني ترمنځ د اور بلولو او جنګ اچولو ته په پراخه توګه کار وشو، د ګاونډيو او غربي سريالونو بازار تود شو او ځوانان او نجونې د هغوی په تقليد روان شول، د دوی په اصطلاح د ښځو حقوق خوندي شول خو هغه حقوق چې

امریکا ورکړي دي، د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل د کوره تښتېدلو ښځو لپاره امن خونې جوړې شوې چې آن د افغان دولت چارواکي هم پرې اعتراف کوي چې د فحشا او بدلمنۍ مرکزونه دي، ښځې وهځول شوې تر څو په پلرني یا دخاوند په کور کې تر یوه واړه خفګان وروسته هم خپل کور پرېږدي اودغه د امن خونو ته پناه یوسي، د امریکا په مرسته د افغان ځوانانو د ډم سازۍ پروژې پیل شوې، په پوهنتونونو کې د افغان ځوانانو د موسیقۍ او ګډا د زده کړې مرکزونه جوړ شول، د امریکا مداحو رسنیو ته هر ډول ازادي ورکړل شوه، چې د فحشاء د ترویج لپاره څه ډول سریالونه او فلمونه خپروي آزاد دي او آن دوی یې ورته تمویلوي هم، د ایف ام راډیو ګانو له لارې د پېغلو او هلکانو ترمنځ یارانه جوړول یې یو کوچنی مثال دی، د ښځو د حقوقو علمبردارانو او مشرانو هغه کړنې ترسره کړې، چې قلم یې په لیکلو شرمېږي.

په اقتصادي برخه کې:

پر افغانستان د آزاد بازار اقتصادي سیستم وتپل شو، دا داسې یو سیستم دی ،چې د اکثرو اقتصاد پوهانو په خبره په داسې شرایطو کې د افغانستان لپاره زهر قاتل و، خو ددې لپاره، چې امریکا په آزاد ډول هر څه وکړای شي او هرڅوک تمویل کړای شي او د هر چا لپاره د فعالیت ساحه آزاده وي، نو ځکه یې دلته ډالر واردول هم د آزاد بازار د سیستم سره وترل، په دې هېواد کې سړکونه جوړ شول، خودا سړکونه تر ډېره بریده هغو سیمو ته جوړ شول، چې امریکا غوښتل خپل عسکر په ټانګ سپاره هلته ورسوي ،تر څو ترې استخباراتي، اقتصادي او... ګټه واخلي، په دوولس کلونو کې افغانستان ونه شو کړای، چې حتی یوه داسې کارخانه جوړه کړې، چې ددې هېواد اقتصاد پرې ورغول شي او آن داخلي حیاتي مواد تولید کړي، مرسته وشوه تر څو وارداتي برخه قوي شي او افغانستان همېشه د خپلو دښمنو ګاونډیو محتاج وي، نن دوولس کاله وروسته هم دا هېواد له نورو هېوادونو هغه اړین مواد واردوي، چې له هغې مخکې یې واردول او که یوه ورځ پرې د ګاونډیو له لورې دروازه وترل شي نرخونه له اسمان سره خبرې کوي، نړیوال او سیمه ییز سوداګر ددې پر ځای چې دلته پانګونه وکړي کوښښ کوي له دې ځایه پیسې ټولې او په دوبۍ او توکیو کې خپلې پانګه اچونې وکړي، د کار د نه شتون له لاملـه څوک ځان وژنې کوي، څوک د بحرونو د ماهیانو خوراک شول او څوک هم د غرونو د ځناورو. د پرېښانه او سرشاره سیندونو په لرلو سره د خپلې برېښنا ځښتن نه شو که یوه ورځ هم وارداتي برېښناه بنده شي، د هېواد پلازمېنه او ولایتونه به په توره تیاره کې شپې سبا کوي، امریکا ګاونډي

هېواد ته د برېښنا د هر ډول اړتيـاوو د پوره کولو لپاره سينه ډبوي خو پـه افغانستان کې د نورو لخوا د رغېدو سره يې هم مخالفت کوي ځکه ګټې يې له خطر سره مخ کوي.



په پوځي برخه کې:

څه موده وړاندې په افغانستان کـې د نـاټو دمشرۍ پـه خـبره چـې د پوځيانو د مرګ ژوبلې لړۍ د تحمل لـه حـده وتلـې ، دهمـدې خـبرې څرګندونـه کـوي، چـې د مـلي اردو او پوليسـو پـه روزنـه او تجهيـز کـې سـتونزې شـته ،کلـه چـې امريکايي ځواکونو د ټانګونو، توپونـو او د بي ۵۲ الوتکو سره سره هغومره تلفات وليـدل او لا يـې هـم ويـنـي نـو افغـان مـلي اردو تـه بـه د يـو ټوپـک، راکټ،پيکا او بېکاره پوځي موټرو سره ولي دومـره مـرګ ژوبلـه نـه اوړي؟ دلتـه کليـوالي ملېشـې د اربکيانو او يا محلي پوليسو په نوم جوړې شوې او په کليـو کليـو کـې جنګونـه پيـل او د کورونـو او قومونو ترمنځ دښمنۍ پيدا شوې، امريکا افغانستان ته په راتګ سره ددې هېواد هوايي ځـواک پخـواني پاتې شوې الوتکې په ټوليز ډول له منځه يـوړې او هيڅ يې هم ورته پرېښودې، داسې الـوتکې، چـې د افغانسـتان د شرايطـو سره برابـرې وې او افغـان پيلوټانو ورسره بلدتيا لرله، خپلـه يـې مـلي اردو تـه داسې الوتکې ورکړې، چې د څو ورځـو پـه تېرېـدو سره له منځه ولاړې په افغانستان حساب شوې خـو بې ګټې.

په تعليمي برخه کې:

افغانستان يو وخت د سيمې په سـطحه د لـوړ تعليمي سيستم او تجهيزاتـو لرونکـی و، خـو تېـرو کورنيو جګړواو وروسـتيو نـا امنيـو دغـه هېـواد د سيمې او يا هم د نړۍ په کچه د بې سـوادۍ کنـدې ته ورټېل واهه ، امريکـا لـه خپـل راتـګ وروسـته دافغانستان د بيا رغونې او جوړولو سينه ډبوله خـو هيڅکله يې هم د کدرونو په روزلو کې مرسته ونـه کړه او نه به يې هم وکړي، په هېواد کې په زرګونـو ښوونځي جوړ شول خو تعليمي سـطحه دې سـويې ته ورسېده، چې له پوهنتون فارغ ځوان املاء هم نه شي ليکلی، پـه سـلګونو خصـوصي پوهنتونونـه او

مکتبونه جوړ شول ،خو د اکثرو سوداګریزه برخه په تعلیمي برخې مخکې ده، مختلف تجارتونه پکې روان دي، وظایف او دندې هم د لیاقت پر ځای روابطو پورې وتړل شوې، هغه ځوان چې استعداد لري او د بورس او یا هم د شخصي لګښت له لارې یې ځان یو ځای ته رسولی د کار د نه پیدایښت له لامله له روحي او رواني مشکلاتو سره مخ شوی دی، وظیفه او کار د هغه چا لپاره دی، چې یا خو وزیر وپېژنې او یا هم رئیس، وزارتونه په اشخاصو او حزبونو ویشل شوي دي او هر هغه سړی تکړه دی، چې خپل کسان په یوه اداره کې تر بل ډېر وګوماري.

په روغتیایي برخه کې:

افغانستان ته په تېرو دوولسوکلونو کې د ملیاردونو ډالرو په راتګ سره سره بیا هم د کرزي په خبره د داسې ډاکټر خاوند نه شو، چې د روغتیا وزارت یو ماشین وچلوي، نو شخصي- روغتونونه او یا هم دعامو افغانانو په خدمت کې د روغتونو او ډاکټرانو به څه حال وي، وایي چې د افغانستان له لورې په هند کې کوزېدونکی الوتکې ته امبولانس وایي، له دې لامله، چې هلته تلونکي ټول افغانان دعلاج لپاره ځي، په پېښور کې د نارت ویسټ او رحمان روغتونونو ته په ننوتو خو داسې ښکاري لکه دغه روغتونونه چې په کابل کې وي، ځکه ټول مراجعین یې افغانان وي ، ډېره ساده دوا هم له بل هېواد واردېږي.

همداسې یې دا نورې برخې هم درواخلئ.

ګټه چا وکړه؟

ګټه هغه چا وکړه، چې دوولس کاله وروسته هم د سیمې د کنترول، د استخباراتي او پوځي معلوماتو د راټولولو او هم د نورو د وېرولو او خپل نفوذ د ساحې دپراخولو لپاره په پراخه پیمانه پرته له هر ډول څارنې او قید او شرط دلته پوځي حضور لري، ګټې یې خوندي او له تنخوا پرته خادمان لري، له دې ځایه هر وخت او هر ځل چې وغواړي هر څه انتقالولی شي او هر چېرته پرواز کولی شي، لکه د خپل هېواد پوځي اډې او خپل شخصي حریم لري، هیڅوک ترې د تګ او نه هم د راتګ پوښتنه کولی شي، هر وخت چې وغواړي هر ډول پوځي وسایل او تجهیزات دلته راوړی او هم یې ازمویلی شي، له دې هېواده چې هر چېرته وغواړي حمله کولی شي او دا هېواد له خپلو ګاونډیو سره هر وخت په جنګ اچولی شي، ددې دومره تفصیلاتو نه وروسته اوس تاسو ووایئ چې چا ګټه وکړه او چا تاوان؟

***

داسلام غزوات اوسرايا

دبـــدر مَـــوعِد غــزوه

ابوظهير

ذات الرقاع غزوې څخه له ستنيدو وروسته رسول الله ﷺ څه موده په مدينه منوره کې مقيم و، داحدنه بيرته تلو پـه مهـال يـې لـه ابوسفيان سره ژمنه کړېوه چې راتلـونکی کـال بدر ته دواړه غاړې د جنـګ لپـاره راځـي، پـه دې وجـه رسـول الله ﷺ پيـنځلس سـوه صحابه ځان سره کړل اود شعبان په مياشت کې دبدر په لوري روان شو، درسيدو وروسته اتـه ورځې شو، بل پلوته ابوسفيان هم دمکي څخـه دخلکو سره يوځای ﴿مرا لظهـران پـورې راغـی، خوبدر ته دراتلو همت يې ونکړ له هم هغه ځايه په دې ويلو سره بيرته وګرځيد چې:

سږ دقحطی او ګرانـی کـال دی دجنـګ او جګړې کال ندی.

رسول الله ﷺ داتو ورځـو انتظـار وروسته چې کله دمقـابلې څخـه نـاهيلی شـو نودجنګ او جګړې پرته مدينې منورې ته سـتون شو.(ابن هشام ۲تـوک ۱۳٦مخ)

ابوسفيان دبيرته تلو په مهال ويلي و: چـې راتلونکی کال به په بدر کې بيا سره جنګ کـوو، خو سينه کې دننه دهغه زړه مرعوب و، له زړه يې غو ښتل چـې رسـول الله ﷺ بدرتـه رانشي ځو دشرمندګۍ او خجالت نه خلاص شم. او دجګړې څخه دډار تور پـه مسـلمانانو پـوري شي.

دنعيم بن مسعود په نوم يوتن چې مـدينې ته روان و، هغـه تـه يـې پريمانـه مـال دولـت اومانه، چې مدينې ته ورسي هلته په مسلمانانو کې داخـبره مشـهوره کـړه چـې دمکـي خلکـو دمسـلمانانو سره دجنـګ لپـاره يولـوی لښـکر جمعه کـړی نـو ستاسـو لپـاره غـوره داده چـې دقريشو سره جنګ ته ونه وزی،دابوسفيان هدف دا و چې کله دا خبره مشهوره شي مسلمانان به وډار شي او دجنګ لپاره به را بيرون نشي (کوم تـه چـې دنـن پـه اصـطلاح پروپاګنـد ويـل کېـږي)ليکن بـرعکس ددې پـه اوريـدو پـه مسلمانانو کې ايماني جذبات نور هم راوپاريـدل او دحسبنا الله ونِعمَ الوَکِيل په ويلو سره دبدر پـه

لور روان شـول او دکـړې وعـدې سره سم بدرته ورسيدل، اتفاقاً هلته يو ډېر لـوی بـازار جـوړو، مسـلمانانو پکـې تجارتي مالونه وپلورل او ځيني وپيـرل په دې توګه له ښو پريمانـه ګټـو سره يوځـای او پـه خيـر اوبرکـت مـدينې منورې ته ستانه شول.

په دې اړه دا آيت نازل شو:

اَلَذين اسـتَجَابوا لِلهِ والرسـولِ مِـن بعـدِ مـآ اَصابهُم القَرحُ لِلَذين احسنوا مِنهُم واتَّقَـوا اَجـرٌ عظيم.اَلَّذين قَال لَهُمُ الناسُ، انَّ الناس قَد جمعـوا لَكُم فاخشَو هُم فَزادَهُم اِيمَانا وقالوا حَسبُنَا اللهُ وَ نِعمَ الوَ كِيل فَا نقَلبُوا بِنِعمةٍ مِـنَ اللهِ وَ فَضـلٍ لَّـم يَمسَسهُم سُوءُ وَاتَبعُوا رِضوَانَ اللهِ وَاللهُ ذُوفَضلٍ عَظِيم.(ال عمران ۱۵۷ايت)

ځيرنه:

پـــه دې ايـــت کـــې د دروغـــو خـــبرو مشهوروونکي الله تعالی شيطانان ياد کړي.

اِنمّا ذلُكم الشيطنُ يُخَوِفُ اَولياءهُ فلاتَخَافوا هُم وخَافونِ اِن كُنتُم مُؤمِنين.

الله تعـالی ددې پروپاګنـد عـلاج اوځـواب داسې وکړ چې مسلمانانو تـه يـې وښـوده چـې تاسې دخپل وس او توان سره سم دجهاد او قتال لپاره ځانونه تيار کړئ او حسبنا الله ونِعم الوَکيل ولولئ يعنې په الله باور وکـړئ او معـاذالله داسـې هيڅکله مه کوئ چې دشيطان ددې دروغـو پـه

ځواب کې تاسې هم دروغ وایاست بیا څـه ګټـه ده؟ اسلام دخپلو دښمنانو پـه اړه هـم د دروغـو ویلو اجازه نه ورکوی.

د دُومَةُ الجَندل غزوه:

دهجرت په ۵کال ربيع الاول کې رسـول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)ته خبر ورسيد چې دُومة الجَندل (دادیوې سيمې نـوم دی چـې دمـدينې منـورې څخه دپينځلس ورځو په مسافت لرې ده،او لـه دومة الجندل څخه ددمشق پورې دپنځـو ورځـو مزله لار ده زرقاني ۲ټوک ۹۵مخ (خلـک غـواړي په مدينـه منـوره بانـدې حملـه وکـړي، رسـول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)دربيع الاول په ۲۵ مـه نيټـه د دومة الجندل په لور کوچ وکړ ، کـوم خلـک چـې راټول شوي وو هغـوی درسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دروانيدو خبر په اوريدو تيت شـول اورسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دربيع الثاني په ۲۰مـه نيټـه بيرتـه راستون شو(طبقات ابن سـعد ۲ټـوک۲زرقـاني ۲ټوک ۹۵مخ)

مولوي محمد نعيم جليلي

سیکولریزم

د لویدیځ په خدمت کې!

کله چې په اسلامي خاورو د لویدیځ مستقیم عسکري استعمار پای ته ورسید، نو د دغو ټولنو واک هغو فکري سیکولر ډلګیو ته وسپارل شو، چې هدف او موخه یې د ښوونې، کلتور، سیاست، اقتصاد، او ټولنیزه برخه کې د دغو ټولنو غربي کول وو.

دا کار په تصادفي توګه سرته ونه رسید، بلکې له کله نه چې استعمار په دې پوه شو، چې اسلامي ټولنې کرار کرار راویښیږي او نور د نظامي شتون او استعمار لپاره پلمه او بهانه نه پاتې کیږي، په لویدیځ کې یې د دغو سیکولر عناصرو د روزنې لپاره ځانګړي مراکز پرانستل چې مستشرقینو یې مشري کوله او د داسې افرادو او ډلګیو په روزنه یې پیل وکړ ،چې نومونه یې اسلامي او فکرونه یې آن له لویدیځوالو هم مزخرف او تند وو. په دې اړه تر ټولو زیاته پاملرنه یې مصر ته وکړه، ځکه چې په اسلامي ټولنو کې مصر په علمي لحاظ مخکښ ؤ، او د ازهر له برکته یې په خواوشا ټولو اسلامي هېوادونو ځانګړی اغېز پروت ؤ.

دغو ډلګیو څو لسیزې په اسلامي هېوادو واکمني درلوده، چې عمومي لاس ته راوړنې یې، استبداد، ټولنیز فقر، علمي او د تکنالوژۍ په ډګر کې وروسته پاتې والی، د ژوند په هر اړخ کې په لویدیځ اعتماد.. او داسې نوري په لسګونو ستونزې او ناخوالې وې.

د لویدیځې مشروع تر ټولو ستره بریا په رسنیز ډګر کې وه، چې د تل لپاره به یې ولسونو ته په ډیره سپین سترګۍ درواغ ویل او دنده یې په دریو ټکو کې خلاصه کیده، لومړی به یې دغو سیکولر عناصرو ته د آزادۍ، د اتلانو په نامه تقدس ورکاوه او هغوی به یې په کاذبو او جعلي اتلولیو ستایل، دوهم کار یې د لویدیځ د لویې، بشردوستۍ او رحمدلۍ ډنډوره غږول وو او درېیمه وظیفه یې بیا ولسونو ته د خیالي جنتونو درواغجنې وعدې وې.

دا هغه مهال ؤ ،چې خپله په لويديځو ټولنوکې نور د دوی بدرنګه څېره بربنډه شوې وه، هلته يې په مقابل کې د کمونيزم په بڼه قوي غبرګون راپورته شوې ؤ، له همدې کبله يو شمير اسلامي هېوادونه د دغه بلاک سره ودريدل او د اسلامي ټولنو لپاره يو بل داخلی سرخوړې پيدا شو.

خو کله چې کمونيزم د ظلم او تاړاک آوازه په نړۍ کې خپره کړه، د سړه جنګ پر مهال لويديځ هم تړې په وېره کې شو، نو په يو شمير اسلامي هېوادونو کې اسلامي خوځښتونو لږه ساه واخيسته ،چې په دې سره په ټولنو کې اسلامي روح راژوندی شو،کرار کرار ولسونو اسلامي خوځښتونه وپيژندل او باور يې پرې زيات شو،خو د سړه جنګ پای ته رسيدو سره سم يو ځل بيا لويديځ اسلامي نړۍ ته مخ کړ، او په خپل بشپړ ځواک يې د اسلامپالو په ځپلو پيل وکړ، دا هغه مهال ؤ چې ولسونو د اسلامي حرکتونو سره تړاو پيدا کړی ؤ، له دې کبله د لويديځ بريښي (سيکولران) د اسلامي ولسونو سره لاس او ګريوان شول، پاڅونونه وشول او د استبداد يو شمېر څلي او بتان را وپرځيدل، خو يو ځل بيا لويديځ چې په سر کې يې امريکا ده، په ډېره سپين سترګۍ خپل ټول شعارونه تر پښو لاندې کړل، بشري حقوق، ډېموکراسي او ولسواکي، د بيان آزادي او ديته ورته شعارونه يې درې وړې کړل، د ولسونو په آرمانونو يې پښې کيښودې او هڅه يې وکړه، چې يا خو دغه ولسونه د داخلي جګړو په کرغيړنه بلا اخته کړي او يا هم که کوم ولس هوښياري وکړي، هلته د کودتاوو له لارې مشروع حکومتونه راوپرځوي.

پرون په مصر کې د سيسي کودتا او نن د ترکيې د ناکامې کودتا هڅه د همدغه لړۍ تسلسل ؤ.

جالبه دا ده، چې کله هم د لويديځ دغه بدرنګه څېره خلکو ته ورلوڅه او افشاء شي، د لويديځ روزل شوي شاګردان بيا وايي چې دا هسې تش خيالونه او وهمونه دي، لويديځ کې هېڅ ګناه نشته ،ګناه په خپله د مسلمانانو ده

د لويديځوالو جادوګرانه کمال:

د غربي مشروع طبيعت بلکې کمال دا دی چې خپل اصلي مقاصد او موخې خلکو ته نه ځرګندوي، ځکه چې د هغوی اصلي مقاصد او اهداف د اسلامي ټولنو د انساني فکر، تګلارې، او ارزښتونو سره په ټکر کې دي او جذري اختلاف ورسره لري،له دې کبله لکه څرنګه چې قرآن کريم د منافقينو اوصاف بيانوي، کټ مټ غربيان له همدې اسلوب څخه کار اخلي. قرآن کريم وايي: (و من الناس من يعجبک قوله في الحياة الدنيا ويشهدالله على ما في قلبه وهو ألد الخصام , و إذا تولى سعى في الأرض ليفسد فيها و يهلك الحرث والنسل, والله لايحب الفساد (ځينې له خلکو هغه دي چې د خولې وينا يې تا په تعجب کې اچوي او ستا خوښيږي او الله تعالى په خپل

اخلاص او زړه باندې شاهد ګرځوي، په داسې حال کې چې هغه تر ټولو ستر دښمن دی، کله چې دوی په زمکه کې خپاره شي نو فساد کوي، نسلونه او فصلونه تباه کوي ، او الله تعالی فساد نه خوښوي.

له همدې کبله لویدیځ هڅه کوي ،چې د اسلامي ټولنو داخل ته د ننوتلو داسې پټې او ناڅرګندې لارې چارې ولټوي چې په تدریجي ډول یې خپلو اهدافو ته ورسوي، او له مخامخ ټکر ځخه ځان ساتي.

په عامه توګه هغوی په دوه ډګرونو کې پټ کار کوي.

لومړی: د فکر او منهج په ډګر کې:

د فکر او تصور د تغییر او بدلون لپاره هڅه کوي، چې د اسلام سمه بڼه د مسلمانانو په ذهن کې مغشوشه او مشکوکه معرفي کړي، د اسلامي شریعت د یو شمېر مفاهیمو، احکامو او ارزښتونو په اړه د تشکیک او اختلاف اچولو له لارې هڅه کوي چې د شریعت قداست، احترام او درناوی د مسلمانانو له زړونو وباسي، کله ناکله د فقهي جزئي اختلافاتو په رابرسیره کولو داسې بڼیي چې ګوندې دغه احکام هسې د فقهاوو نظریات او آراء دي او اسلام د یو شمېر کلي مقاصدو نوم دی، چې هر څوک کولې شي د خپل وخت د غوښتنو سره سم ترې د خپل ځان لپاره حلال او حرام راوباسي.

او کله بیا دا هڅه کوي چې په اسلامي ټولنو کې د دغو فقهي اختلافاتو خبره دومره ستره کړي او دومره یې چیړي او بحث او مناقشه په کې کوي چې ګواکې دوی د اسلامي شریعت سره هېڅ مشکل او ستونزه نلري، یوازې د دوی فهم د یو شمېر فقهي احکامو په اړه د امت د اسلافو او یا ديني مراجعو سره توپیر لري، د دې کار لپاره هڅه کوي چې په کتابونو کې چېرته هم ناآشنا فتوی یا شاذه نظریه په لاس ورشي، هغه رابرسیره کړي، او په دې ډول په حقیقت کې ځان د التزام له چوکاټه وباسي.

بله پلمه یې دا ده چې د سیاسي اسلام په نامه د مسلمانانو په ذهن کې د اسلام سمه بڼه تتوي، وایي چې اسلام خو د څو اخلاقیاتو نوم دی، اسلام ډېر سپېڅلی دی، هغه باید د سیاست، اقتصاد او نړیوالو چارو په پلیټیو ککړ نشي، په اسلام کې د واکمنۍ تصور، د هر اړخیز نظام تصور او بالآخره د نړۍ د قیادت قضیه ، له دې مخکې هېڅا هم په اسلام کې د واکمنۍ خبره نه ده یاده کړې.غواړي پدې ګډو وډو سره د اسلام له دایرې ځان ته د وتلو آسانه لارې او ګودرې پرانیزي.

لویدیځ له چا کار اخلي؟

د دغه پروسې د توظیف لپاره د مال، جاه، منصب او داسې نورو شهوتونو له هڅولو څخه کار اخلي، او په ټولنه کې یو شمېر هغه انسانان چې د دوی نیغ په نیغه شاګردان پاتې شوي او یا

هم له هغوی څخه تر ډېره اغېزمن دی د رونړ اندو او کارپوهانو په نامه معرفي کړي، چې همدا ډله بیا د اسلام او اسلامي احکامو داسې تعبیرونه وړاندې کوي چې ګواکې همدوی د اسلام سم غمخواره او پرې دردمن خلک دي او هغه په حقیقت کې د غربي مشروع او پروژې سره د اسلام د سازش پټه هڅه وي، همدا ډله د دې پر ځای چې عملي دینداری ته خلک راوبلي او یا په خپله په کې التزام موجود وي، هسې تش په نامه په یو شمېر فقهي احکامو د بحثونو او مناقشو له لارې داسې ښیي چې ګواکې همدوی په دین پوهېږي او د دین اصلي وارثان دي، پخوانیو علماوو او کتابونو د دین سره یې ستر خیانت کړی دی.او اوسني علماء په هیڅ نه پوهېږي .

دوی سره په حقیقت کې په دغو جزئي اختلافاتو کې خبره نه رالنډېږي، او نه په دلایلو او قناعت خبره سرته رسېږي، دوی سره اساسا د قضاوت معیارونه جلا دي، دوی د اسلامي شریعت د حاکمیت او واکمنۍ په اړه منکردی، دوی سره د الله او معبود معنا جلا ده ، دوی چې د کوم رب خبره مطرح کوي، هغه یوازې واعظ او نصیحت کونکی دی، دوی هغه رب نه منې چې حاکم او قیوم وي او د هغه سره د ټول انسانیت واک او اختیار وي . د دوی د رب د اختیار ساحه ډېره محدوده ده له دې کبله دوی په ټولنه کې یو نوی تصور حاکمول غواړي، د ژوند ځانګړې تګلاره معرفي کوي، دوی د اسلام داسې تصور وړاندې کوي چې د لویدیځ سره اړخ ولګوي او

لدې کبله که چېرې څوک د اسلام حاکمیت مني او د شرک او کفر څخه پرته نور ګناهونه کوي هغه مسلمان دی، د هغه سره معامله جلا ده، خو که څوک حاکم رب نه مني، نو له هغه سره قضیه بیا د عقیدې او باور ده، د هغه سره په جزئیاتو کې خبره کول ګټه نلري، هغه به هڅه کوي چې په جزئیاتو کې د بحث او مناقشې له لارې خپل اصلي اهداف پټ کړي، هغه پدې باور دی چې د اسلامي ټولنو لپاره د لویدیځ نسخه ښه علاج دی، د لویدیځ عقیده، کلتور، ارزښتونه او نظامونه په اسلامي ټولنو کې د بدلون او تغییر اساس ګڼي. قرآن د یو شمېر خلکو همدا باور ذکر کوي فرمایي: (آلم تر آلی الذین آوتوا نصیبامن الکتاب یؤمنون بالجبت والطاغوت ویقولون للذین کفروا هؤلاء آهدی من الذین آمنوا سبیلا) آیا ته نه ګورې هغو ته چې د کتاب لږ علم ورکړل شوی په جبت او طاغوت ایمان راوړي او وایي چې کافران له مؤمنانو ښه لارموندونکي دي.

دوی د خپل نظر او فکر لپاره یو شمېر داسې افراد چې ديني علم ته منسوب وي خو د لویدیځ په لاس جوړ شوو واقعیتونو په وړاندې یې ګونډه وهلي وي او داسې انګېرې چې اوس نو همدا مو لار ده ، او له دې پرته بله لار نشته،. دغه د پردیو په چوپړ کې لګیا ډله علماء دا فکر کوي چې مونږ د اسلامي امت لپاره له تنګسیاوو څخه د وتلو

لارې برابروو، خو په حقیقت کې د لویدیځې مشروع لپاره زمینه برابروي. له همدې کبله په یو اثر کې راغلي دي چې : (ثلاثة یهدمن الدین, زلة العالم, جدال المنافق بالقرأن و الأئمة المضلین) درې دلې دي چې دین ړنګوي، د عالم ښوېدنه، په قرآن کې د منافق خبرې او مناقشې او ګمراه امامان)

د یادولو وړ ده چې کله ناکله دیو شمېر هغو علماوو فتواګانې هم په دې اړه ستونزه راولاړوي چې واقعیتونو، د مستفتي حالاتو او اغراضو ته نه ګوري او تش د یو شمېر فقهي نصوصو او یا اقوالو پر بنسټ فتوا ورکوي، ډېر ځله دغه ډول فتواګانې هم د دغو خلکو تبر ته لاستې اچوي، د بیلګې په توګه د ښځې ورزش کول، یا د موسیقي د جواز او عدم جواز قضیه او داسې نور.

له دې کبله هرې فتوی ته باید د جزئي فقهي حکم په سترګه ونه کتل شي بلکې هغه باید د غربي مشروع د سترو اهدافو په رڼا کې وڅېړل شي ، دا خبره په ځانګړې توګه هغو علماوو ته متوجه کیږي چې د رخصتونو لار نیسي او په هر څه کې د یسر او سهولت پسې ځي.

دوهم: د سیستمونو او قوانینو په برخه کې:

په اسلامي ټولنو باندې د واک ټینګولو لپاره د لویدیځ بله ستره ستراتیژي، په قانوني، نظامي او رسنیز ډګرکې د سیکولر عناصرو توظیف او ګمارل دي، په دې اړه لویدیځ یوازې د ا فرادو په ګمارلو هم بسیا نه کوي بلکې خورا زیاته هڅه یې دا وي چې په دغو ډګرونو کې سیستمونه او قوانین داسې ترتیب کړي چې پرته له سیکولر عناصرو بل څوک په کې مخکې ولاړ نشي،له همدې کبله کله یو شمېر وګماری چې په پو هنتونو کې د شرعیاتو پوهنځیود لغوه کولو اواز اوچت کړي کله بیا په پوهنتونو کې دثقافت مضمون غیر ضروری وبولي ، او نن د حقوقو د پوهنځیو نوي او تنکي استاذان په ډېر سرعت سره یوه او بل هېواد ته استوي، تر څو د غربي قوانینو سره یې بلد او په راتلونکې کې یې د شرعیاتو او اسلامی قوانینو سره د بلدو قضاتو ځای ناستی کړی او نور ګن پلانونه د اسلام د کم رنګه کولو لپاره په لاره اچول شوی دی او په دې ډول همدا د لویدیځ استعمار هغه ستراتیژی وه چې لا تر اوسه هم هغه هېوادونه چې د خپلواکۍ څو لسیزې پرې تېرې شوي خو په دغو برخو کې د لویدیځ له ګروته وتلي نه دي، دا نن چې دلته او هلته د نظامي کودتاګانو هڅې کیږي، د همدغه ستراتیژۍ تسلسل دی.

دا هغه ډګر دی چې اسلامي خوځښتونو له دې سره چې په ولسي سطحه یې خورا زیات کار کړی، خو په دغو اړخونو کې لا تراوسه هم پاتې راغلي دي او نتیجه یې د همدغو انقلابونو تسلسل دی.

همدا کار اوس په افغانستان کې روان دی، د افغانستان د اردو جوړښت، رسنیز ډګر او قانوني بنسټونه تر همدې ګوابښ لاندې دي!

د مورچل وږمي

رضوان اللّه فیضانی

اتفاق

ذوالجلاله مؤمنان په اتفاق کړې
ستا سپېڅلي بندگان په اتفاق کړې

چې راټول د یو امیر په قومنده شي
یا الله مسلمانان په اتفاق کړې

تېر تاریخ چې د اصحابو راژوندی شي
ټول خواره واره غازیان په اتفاق کړې

اختلاف له مونږه ورک کړې نور څښتنه
طالبان هم عالمان په اتفاق کړې

یو د بل مخته چې سپر کړو خپل ځانونه
عجمیان او عربان په اتفاق کړې

محبت او صفا مینه درنه غواړو
زمونږ سپین ږیري او ځوانان په اتفاق کړې

ډېر ستومان یو نور مو وصل کړه منزل ته
ستر کاروان مو هم څاروان په اتفاق کړې

کړه قبول د (فیضاني) دغه سوالونه
حق پرسته شاعران په اتفاق کړې

غزل

قاري تائب

زغمئ دې نشي، نن په تا پسې خبرې کوي
بدرنگه خلک، ستا ښکلا پسې خبرې کوي

زه پرې مئین یم د پتنگ په شان پرې ځان سوځوم
دوی د هغې شمعې رڼا پسې خبرې کوي

کله هلمند، کله زابل او قندهار یادوي
کله ویاړلې پکتِیا پسې خبرې کوي

یرغلگران یې پر شا وتنبول، ویې ځپل
اوس یې په کړنه او ادآء پسې خبرې کوي

زه چې دفاع له خپلې خاورې او له ننگه کوم
تآئبه! دوی مي یه وفا پسې خبرې کوي

لکه ورور

سپین کوچی

قدم راسره اخلي په کراره لکه ورور
خولې سترې،ستومان د ژوند په لاره لکه ورور

د ژوند د قافلې په هر پراؤ، هره دمه کې
یو څوک مې اوږې سپکې کړي له باره لکه ورور

زه دلته د حالاتو ، ورکو لارو کې راګیر یم
خو هلته خوږې څوک زړه له انتظاره لکه ورور

هغه مو نن د سرو وینو بخښنه کړي قاتل ته
پر موږ باندې چې ګران ؤ رب لپاره لکه ورور

پخپله د حالاتو سره غرمو ته وي ولاړ
په ما د مینې سیوری کړي چیناره لکه ورور

د زړه کوڅو کې غلی،غلی ویر، غلې سلګۍ وي
چې څوک مې غلی ځي د زړه له ښاره لکه ورور

زه پروت تپې،تپې یمه زګیروي کرمه،دا ژاړي
یو څوک مې سر ته ناست وي تر سهاره لکه ورور

شیندلی، خور و ور زړه مې راټول شي پرې چې څوک
پر مخ راشي کوچیه سپینه یاره لکه ورور

دریځ

سمیع الله ترون

لکه ګوري مچی شات پسې روان دی
دا سړی د سر خیرات پسې روان دی

دا زلمی چې شهید کیږي او لا خاندي
دا د رب په ملاقات پسې روان دی

د هندو پټکی یې خپو ته راغورزیګي
غزنوي په سومنات پسې روان دی

دا صلیب چې نن کوڅه په کوڅه ګرځي
دا ابلیس په ادم ذات پسې روان دی

نو ضرور به خالدي توره شرنګیږي
څوک په لات څوک په منات پسې روان دی

دوه سړي دي یو طاغوت ته غاړیوزي
بل حدیث او په ایات پسې روان دی

خوار ترون په دغه دویم سړي پسې دی
ورته وایي مناجات پسې روان دی

افراط کوونکي هلاک شول!

ليکوال: مصطفى محمد الطحان
ژباړن: حزب الله "ناصح"

د اسلام د اسانۍ څخه دا دی چې د بې ځایه سختي کوونکو متشددینو او هغو کسانو سره مقابله کوي چې غلو او له حد نه تیری کوي . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:
»هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ قَالَهَا ثَلاَثاً «(صحیح مسلم(
"افراط کوونکي او غلو کوونکي هلاک شول . او دا خبره یې درې ځله تکرار کړه"

دا هغه ډیر بلیغ او په زړه پورې حدیث دی چې د دې موضوع په اړه ویل شوی دی او غلو کوونکی سړی چې نا څاپه له یو سخت مشکل سره مخامخ کیږي له ټولو نه ډیر ژر له اسلامي شریعت نه اوړي . دا ډول خلك مو ډیر په غربي هیوادونو کې ولیدل لومړی په خپلو ځانونو او نورو باندې د انتهایي سختۍ نه کار اخلي او په پای کې سخت دردوونکي حالت ته رسیږي . العیاذ بالله دا ډول سختي او غلو کوونکي خلك څومره د الله تعالی د بندګانو او بسته ښارونو د هلاکت لامل ګرځیدلي د څومره محنتونو او کراوونو لامل ګرځیدلي چې ضربې یې نه یواځې دعوت او دعوتګرانو ته رسیدلي بلکې اسلام ، روښانه فکر او د اسلام لورو لارښوونو ته یې هم داسې ضربې ور رسولي چې الله تعالی پوهیږي چې کله به له منځه ځي.

عائشه رضی الله عنها فرمایي:

»مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي أَمْرَيْنِ إِلاَّ أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا فَإِذَا كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ « (متفق علیه)
"رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دوو کارونو په منځ کې اختیار نه ده ورکړل شوی مګر آسان یې ترې غوره کړی ترڅو به چې د ګناه کار نه وه او که چیرې به ګناه وه بیا به تر ټولو خلکو ډیر ورڅخه لرې وه"

ایا سختي کوونکي له دې وروسته هم ګمان کوي چې دوي نیك کار کوي

هغه انسان چې ټول مشاعر او احساسات یې د اسلام له اسانۍ سره وي او په سلوك او چلند کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمل پلی کوي ، همدا انسان متفائل او خوشبین دی په خپل ځان او نورو باندې باور لري، کارونو ته په صبر او نرمۍ سره وړاندې کیږي او په قوي عزم سره یې د تحقیق په لټه کې وي . هیڅ ستونزه یې د شکست لامل نه شي جوړیدلی او هیڅ خنډ یې مخه نه شي ډب کولی . ځنګه به دا ډول نه وي حال دا چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د خپل رب نه په حدیث قدسي کې خبر ورکوي فرمایي:

»أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي ، إِنْ ظَنَّ خَيْرًا فَلَـهُ ، وَإِنْ ظَنَّ شَرًّا فَلَهُ » (مسند احمد)

"زه د خپل بنـده د گومـان مطـابق اوسـم (د عقيدې مطابق ورسره چلند کوم) که يې ښه گومان وکړ نو ورته به خير وي او که يې بدگومان وکړ نـو ورته به شر وي.

نو ايا په دې ځای کې پرته د نيک گومان نه بـل څه روا دي ؟

هغه کسان چې په شک ،ناهيلۍ او بدفالۍ کې ښکيل دي هغوی له بل هر چانه مخکې له خپل ځان سره دښمني کوي په خپلو او د نورو په زړونو کـې بدفالي او ناهيلي اچوي ، په خپلو ځانونو هيڅ باور نه لري بلکې د هيڅ کس په اړه ښه گومان نه لري ان تر دې چې د خپل خالق په اړه هـم ښـه گومـان نـه لري!!

د مسلمان دعوتگر دنده دا ده چې د خـير اثـار وپلټي په روزنه کې يې شي او وده ورکړي تر څو يې غالب کړي.

د هر لوی شر په وړاندې هم بايـد د نرمـۍ او زغم نه کار واخلي د انسان د نفـس نـه يـې ريښـې وباسي او په ځای باندې يې د محبت او خـير دانـې وکړي .

رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

...»يَأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّـرِينَ؛ فَـأَيُّكُمْ مَـا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيُوجِزْ، فَإِنَّ فِيهِمُ الْكَبِيرَ وَالضَّعِيفَ وَذَا الْحَاجَةِ» (رواه مسلم ، عـن ابی مسعودالانصـاری) "ای خلکو ځينې په تاسې کې خلک لـه ديـن نـه زړه تورې کوي . نو څوک چې په تاسـې کـې خلکـو تـه لمونځ ورکوي بايد لنډ يې کړي ځکه په ده پسې سپين ږيري ،کمزوري او حاجتمند هم ولاړ دي"

هارون الرشيد ته يو سړی راغی او ورتـه يـې وويل :ای اميرالمؤمنين زه غواړم چې تا تـه نصـيحت وکړم په هغه کې به کيداي شي څه سخت الفاظ وي هغه بايد تحمل کړې!!

هارون الرشيد ورته وفرمايل : الله تعالی داسې يو کس ته چې له تا نه ډير غوره وه د نرمـې خـبرې کولو امر کړی په داسې حال کې چې له مـا نـه هـم ډير بدتر انسان ته ليږل شوی وه الله تعالی چې کلـه خپل نبي موسی او هارون عليهماالسلام فرعون تـه ورليږل نو ورته يې وفرمايل:

}فَقُولا لَهُ قَوْلاً لَيِّنـاً لَعَلَّـهُ يَتَـذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى{ (طه/٤٤)

"فرعون ته نرمه وينا کوئ ، کيـداي شي چـې پند واخلي او (له ما نـه يـا لـه خپـل عاقبـت نـه) ووارشي"

زمونږ د مجد او عظمت نه ډک تـراث کـې بـې شماره نښې شته چې دا په ډاګه کوي چې اسلام څه ډول غوره طريقه د انسـاني قضـاياوو د عـلاج او د ټولنې د اصلاح لپاره اختيار کړې ده ډول ډول قضيې يې په څومره نرمۍ او اسانتيا سره حل کړي او ټـول ناخوښ اثار يې د ټولنې او غړي له ذهن نه لرې کړي د دې په نتيجه کې ګنهګار انسان، د خپل رب هدايت ته تسليم شو او په بل ډول انسان بدل شو په ټولنـه کې خير او ښيګڼه خپاره شول .

حاطب بن بلتعه د خپل ځان او اسلامي ټولنې په اړه تیروځي کله چې مسلمانان په غصه کیږي او د جزا ورکولو غوښتونکي کیږي، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په نرمۍ او مهربانۍ سره له هغه سره چلند کوي او براءت یې بیانوي فرمایي:

»لَعَلَّ اللَّهَ تَعَالَىَ اطَّلَعَ عَلَىَ أَهْلِ بَدْرٍ ، فَقَالَ : اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ « (صحيح البخارى)

"کیداي شي الله تعالی هغو کسانو ته چې په بدر (غزا) کې یې برخه اخیستې د رحمت په نظر کتلي وي او د دوی په اړه یې ویلي وي څه چې غواړئ وې کړئ پرته له څه شک نه ما درته بښنه کړې"

هغه سړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او وړاندیز یې ورته وکړ چې د زنا اجازه ورکړي . کوم کسان چې حاضر ول هغوی چیغې کړې او د ده وړاندیز یې ډیر سخت بد کار وګانه . خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه سره په ډیره نرمۍ او مهربانۍ سره چلند وکړ او ورنه یې وپوښتل :ایا ته دا کار د خپلې خور یا مور یا لور لپاره خوښوې ؟

هغه وویل : هیڅکله نه!

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته فرمایل : همدا ډول یې نور خلك هم نه خوښوي ، بیا یې ورته د خیر دعا وکړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مجلس نه لا نه وه پاڅیدلی چې سمې لارې ته برابر شو او زړه یې صفا شو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له زړه نه د شر ریښې راو ویستلې او په ځای یې ورته خیر او فضیلت کیښود.

همدا ډول اسلام هره قضیه په ډیره اسانۍ سره حل کړې که څه هم خلکو هغه ډیره سخته ګڼلې وي اسلام د کینې پر ځای مینه کړی ، د شر پرځای خیر کړي، د رذائلو پر ځای فضایل کړي ، د بد فالي پر ځای خوشبیني کړي ، د سختي پرځای اساني کړي ، د زړه تورولو پر ځای بشارت او زیړی ورکول کړي . الله تعالی فرمایي:

}فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنْ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ{ (آل عمران /١٥٩)

"نو د خپل رب د رحمت په وجه ورته نرم شوې او که ته بد خولی او سخت زړی وې ، نو ستا له شا او خوا به خواره شوي وو، نو دوی ته عفوه وکړه ،بښنه ورته وغواړه او په کارونو کې مشوره ورسره کوه، کله دې چې د یو کار عزم وکړ بیا په الله تعالی توکل وکړه ، یقینا چې الله تعالی توکل کوونکي خوښوي"

سرچینه: "د ننني مسلمان ځا نګړتیاوې" له کتاب څخه

Morchal

Islamic, Jihady , Educational and Cultural Monthly Journal